مياشتني

حريت

داسلامي انقلاب د اهـداقو خپـروونكي

تاريخ نبايد تكرار گردد

استانبول يوځل
بيا داسلامي
خلافت د
جوړيدو په لور

جهاد جامعه افغاني رايك جامعهء جديد ساخته نميتوان بافرضيه ها وميتودهاي سابق بران حكومت كرد

داكتر فيض الله «كاكړ»

دمحترم
استاد
«رباني»
له خولي
دمسكو
دخبرو
اترو
تفصيل



اسلامي تحريكونه
دنړي فكري خلاء
ډكولاي شي .
ډاكتر محمد قاسم
«همت»

بعداز امريكا وزارت خارجه
پاكستان . مسئول ضرر رسانيدن

نبوي ارشاد

خصلت هاي منافق

از عبداللّه بن عمرو بن العاص رضي اللّه عنهما روايت شده كه رسول اللّه صلي اللّه عليه وسلم فرمود : چهارخصلت است كه هرگاه دريك فرد جمع شود اومنافق خالص است وانكه در اوصفتي از اين اوصاف باشد در اوصفتي از نفاق موجود است تا ان راترك كند ، چون امين شمرده شود خيانت كند وچون سخن راند دروغ گويد وچون عهد وپيمان كند فريب بازي نمايد وچون دعوا كند دشنام دهد .

بسم الله الرحمن الرحيم

میاشتنی

حریت

داسلامي انقلاب داهدافو خپروونکي

دليكـوالـودشـوری ترنظر لانـدی

سرمحرر: محمد نذير« بشارت »

لومړی کال - پنځمه اوشپږمه گڼه - د ۱۳۷۰هـ .ش دعقرب اوقوس مياشتی

ددي گڼي مطالب

١- سرمقاله.......................(٢)
٢- مرحله گذاراز جنگ به صلح..............(٧)
٣- آيا دافغانستان په باب د پاكستان...........(٩)
٤- دمحترم استاد رباني له خولي دمسكو ....(١٣)
٥- تاريخ نبايد تكرار گردد.......... ......(٢١)
٦- استانبول يوځل بيا داسلامي...............(٢٨)
٧- داكتر فيض الله« كاكړ » درمصاحبه باحريت...(٣١)
٨- كله چي شهيد جنرال ضياء الحق په..........(٣٦)
٩- روابط دوستانه پاكستان......................(٣٧)
١٠- ډاكتر محمد قاسم «همت» له حريت.........(٣٩)
١١- بعداز امريكا وزارت خارجه پاكستان........(٤٥)
١٢- خام بودم - پخته شدم ، سوختم...........(٥٣)
١٣- دسنگرونو معجزي.........................(٥٧)
١٤- دوي غازيان دوي ننگياليان دي.............(٥٨)
١٥- دشهيدانو ياد..............................(٥٩)
١٦- ويشتلي زگيروي ، ليوني كريزي............(٦٠)
١٧- دا هم دغوړمالي يوه لارده (طنز).........(٦٢)
١٨- هماغه يوه پوښتنه !؟ (داستان)........(٦٤)
١٩- اسلامي اوغيراسلامي ادب.................(٦٧)
٢٠- استراتيژي وتكتيك در.......................(٧٠)
٢١- ارمانونه.................................(٧٤)
٢٢- په شانه زاځم « شعر » ....(٧٦)

بانکی پته

اکاونټ نومره(٧٠١٤)
عمان بانك لميټد پشاورپاكستان

دگڼون بيه:

كلني په پاكستان كی (٨٥)كلداری
په اروپا اوامريكاكي (٣٠) ډالره
په عربي هيوادونوكي (٧٥) رياله
ديوي گڼي بيه په پاكستان كي (٧) روپي يادهغه معادل
دمحصلينو اومتعلمينو له پاره نيمه بيه

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

دمسکو اعلاميه ، آرمويښتونه اوخطرونه ....!

دنومبر په ۱۰ مه داستاد رباني صاحب ترمشري لاندي دمجاهدينو هيأت مسکو ته ولاړ ، هيأت په مسکو کي تر ټاکل شوي وخت زيات پاتي شو مسکو ته تر تلو دمخه محترم استاد رباني صاحب دوه خبري په ډير صراحت کولي يوه داچي روسانو ته به په ډګرده وائي چي دافغانستان فاجعه دهغوي دلاس وهني نتيجه ده اودکابل ګوډاګي حکومت په هيڅ توګه زموږ ملت ته دمنلو ندي،بايد له هر ډول مرستي څخه ئي لاس واخلي،بله داچي له دي خبرو اترو سره دافغانستان دقضيي دحل په باب ډيري هيلي تړل ندي په کار اوبايد سنګرونه تاوده وساتل شي .

په مسکو کي هم رباني صاحب دډله ايزي مفاهيمي له وسايلو سره په خپلو ځرګند ونو کي په ډير قاطعيت ټينګار کاوه چي دافغانستان فاجعه دروسانو ديرغل نتيجه ده ، بايد روسان دخپلي اشتباه له ادامي لاس واخلي اوزموږ دمسلمان ملت ارادي ته درناوي وکړي.

داستاد رباني صاحب دي ځرګندونو ته ټولو مجاهدينو اومهاجرينو افرين ووايه اوهغه ئي دخپل مظلوميت اوحقانيت اواز وګاڼه .

مګر دسفر په پاي کي ئي چي له روسانو سره کومه ګډه اعلاميه خپره کړه له هغي نه داسي معلوميږي چي متأسفانه هيأت دروسانو فريب اونيرنګ تيرايستلي دي،ددي معني په هيڅ توګه دانده چي ځوك دي دهيأت په نيت شك وکړي خو هيأت بايد دا ومني چي پدي اعلاميه کي روسانو تري ډير څه وړي دي،تر کومه چي موږ معلومات لرو که څه هم هيأت په علني توګه په خپلو کمزوريو اقرار ندي کړي او دمسکو اعلاميه يي لوي برياليتوب ګڼلي خو په خصوصي مجلسوکي رباني صاحب منلي ده چي په اعلاميه کي دجګړي دتاوان دصراحت نشتوالي ددوي غلطي ده ، اوويلي يي دي چي هيله ده ورونه په وحدت اوهم اهنګي سره په راتلونکو خبرو اترو کي دنورو نيمګړتياوو په ګډون دا اشتباه جبران کړي .

فکر کيږي چي روسانو په ځانګړي چل اومهارت په خبرو اترو کي ګډون کړي دي .

دخبرو په دوران کي ئي دمجاهدينو له زياتو نظرياتو سره توافق بنودلي اودمجاهدينو دهيأت دغړو له څرگندونو سره سم دروسي لوري دمذاکراتو په ټيم کي اختلاف و ، اوبيلابيل نظريات يي درلودل ان تردي چي واني دځينو جمهوريتونو نمايندگانو مجاهدين دسخت دريځ نيولو ته هڅول ، خوله دي ټولو سره سره چي کله خبره داعلاميي ترتيب ته راغلي روسانو خپل کار کړي دي ، اعلاميه اته مادي لري چي په لومړي کي يي ويل شوي :« تقبيح دستور غير قانوني اعزام سپاه شوروي به افغانتسان وشرکت اين کشور در جنگي که رنجها ودرد هاي بيشماري رابه ملت مسلمان افغانستان تحميل نموده وهنوز هم بر آن مي افزايد ، تائيد شده است »

بيخي واضح ده چي بايد ددستور دغند لوپه ځاي ويل شوي واي چي په افغانستان دروسانو يرغل محکوم دي .

همدارنگه څرگنده ده چي زموږ په هيواد کي جگړه دروسيي دلاس وهني اوبيا تهاجم نتيجه ده مگر پدي ماده کي دجگړي دفاجعي عامل گونگ پاتي شوي معلومه نده چي جگړه ولي رامنځ ته شوي ، او چارامنځ ته کړي ، يواځي په جګړه کي دروسانو گډون تقبيح شوي دي .

هغه عمل چي زموږ ددوه مليونه هيوادوالو دبي رحمانه قتل عام سبب شو ، زموږ دوطن څپك څپك خاوره يي دمسلمانانو په وينو ورنگوله ، ټول افغانستان يي په ويرانو واړاو. په داسي تاوراتاو اوکمزورو الفاظو غندل زموږ لپاره څه بري کيداي شي .

بل دا چي زموږ ولس ته وربښنو خوفناکو فاجعو او تراژيديو ته « رنجها ودردها » ويل شوي دي اوهغه هم دروسانو مداخلي او يرغل ته ندي منسوب شوي بلکي هغي جگړي ته منسوب دي چي روسانو پکي يواځي گډون کړي دي .

همدلته ده چي روسانو ځان دجگړي له تاوانه تير کړي دي . په ټوله اعلاميه کي نه دکابل دمزدور رژيم د« غير قانونيت » اودهغه دخمتولو دحتميت په باب صراحت شته اونه دمجاهدينو اومقاومت د« حقانيت » او« مشروعيت » په برخه کي خبره. دجگړي تاوان چي پر روسيه باندي زموږ دمظلوم ملت يو مسلم حق دي هيڅ يادونه يي نده شوي .

داعلاميي اوومه ماده چي پکي ويل شوي « اتحاد شوروي درمساعي مشترك جهت اعمار مجدد ويرانيهاي ناشي از جنگ حتماً شرکت ميکند »

په هيڅ توگه‌دجگړي دتاوان معني نلري .

دا خبره يواځي اخلاقي بڼه لري ، لکه گڼ شمير نور هيوادونه چي دافغانستان دبيا ودانولو په چاروکي برخه اخلي ، روسيه هم دهغو په څير دبرخي اخيستو خبره کوي . پداسي حال کي چي روسيي زموږ پرولس جگړه تپلي ، زموږ وطن يي ړنگ کړي بايد دجگړي دمجرم په توگه زموږ ولس ته تاوان ورکړي .

محترم استاد رباني له مسکونه تر راستنيدو وروسته په يوه مرکه کي وويل چي « موږ کله روسانو ته دجگړي دتاوان خبره وکړه هغوي وويل چي تاسي گوري چي موږ په لوږه اوفقر اخته يو ، پدي حالت کي موږ څه ټول تاسي ته دجگړي پور درکولاي شو ، ما په ځواب کي ورته وويل چي اوس داديوه اصل په حيث ومني چي دا پرتاسي دافغان مظلوم ملت حق دي ، دا چي څه وخت يي ورکوي دابيله خبره ده » کاشکي استاد داعلاميي دليکل کيدو پروخت دا خبره نه واي هيره کړي اوکه يي په ياد وه نو ټينگار يي پري کړي واي .

په هرحال هيأت ښه اعلاميه نده لاسليك کړي ، دا اعلاميه که زموږ دمجاهد ملت دمصلحتونو له مخي دملگرو ملتو دسرمنشي تر پنځه فقريزي اعلاميه بده ونه گڼو ښه يي نشو بللاي . ځکه په هغه کي ټول کليات وو چي دڅه بحث اوتاويل ځاي پکي و ، خوپدي کي ځيني جزئيات هم راغلي چي په بعضي مسايلو کي دنورو خبرو لار نده پاتي شوي .

موږ لکه چي مخکي وويل بياهم وايو چي دهيأت په نيت شك جواز نلري سره له دي چي ځيني کسان گومان کوي چي شايد هيأت له دي ويري چي که بي هيڅ کولو راستون شي ،پر ستيژ به يي ضربه وخوري اودهغو حلقو موضع به قوي شي چي دهيأت

دتگ مخالفت یي کړي دیوه نیمګړي شي لاسلیك ته هم نی زړه ښه کړي وي خو موږ هیله کوو چي داسي نه وي ځکه دخپل پرستیژ لپاره او دیوه عادي سیاسي رقابت په خاطر دیوه لوي انقلاب ګټي او دیوه محروم ملت په مصلحتونو تیري ډیر مایوسونکي عمل دي که هیأت ددي اعلامیې له لاسلیکه پرته راستون شوي واي زموږ جهاد ته هیڅ تاوان نه پیښیده . ځکه زموږ خبره اوموضع پر حق اوواقعیت ولاړ وه .

روسان به وو چي حقایقو اوواقعیتونو ته به په تن نه ورکولو اودسولي په راوستوکي به په اخلاص نه درلودومحکومیدل .

په هر حال اوس چي دا کارشوي دجهادي تنظیمونو مشرانو ته دوخت نزاکت اودشرایطو حساسیت په پام کي نیول پکار دي ، هغوي ته لازمه ده چي په « تاویل ، ماویل » کي دځان اخته کولو پر ځاي دتدبیر اوابتکار لار ونیسي .

د اسلام ددښمنانو توطئي په خطر ناکه چټکتیا رارواني دي وخت په ډیر سرعت تیریږي ، ددي لپاره شاید وخت نه وي چي پدي پسي شو چي تاهغه وکړل اومادا ، څومره چي زموږ قضیه اوږدیږي همدومره موږ ه تاوان ده ، همدومره نوي ، نوي فتني راته راولاړیږي . ورځ په ورځ نوي ستونزي اوریږي سر راپورته کوي ، ددي لپاره په ډیر جدیت کار روان دي چي یا په افغانستان کي داستعمار دخوښي حکومت جوړ شي ، یا پکي دیوه بل لبنان دجوړیدو دردونکي اوربل شي اویا هم ټوټه ټوټه شي ، داخطرونه اوس کاملاً محسوس دي ، ددي مقابله یوازي په خبرو اوشعارونو نه کیږي ، بلکي تدبیر اوعمل غواړي څومره به دردوونکي وي چي هغه جهاد چي داسلام دعظمت داحیا پاڼه بلل کیږي دامت دهیلو مراندي ورپوري تړل شوي ، دیوه تاریخي دوران دنوي کولو ویاړ ورته منسوبیږي ،

خداي مکړه پدي تمام شي چي په افغانستان کي دلبنان وضعه تکرار شي . یاد شهیدانو پر زیارتونو دکفارو دیوه بل ایجنټ ډولي تیره شي اویا هم واحد افغانستان په ټوټوټو وویشل شي دا به برسیره پدي چي زموږ مظلوم مجاهد ملت ته یوه روانسوزه فاجعه اوسانحه وي ، داسلام برم او عظمت ته به یوه بدشاګومه ضربه وي او دامت دتاریخ به یو توریاب وي .

اوس چي په پام کي ده له روسانو سره راتلونکي خبري په پاکستان کي وشي ، دهغو تنظیمونو چي دمسکو دمذاکراتو مخالف وویو مهم شرط پوره کیږي هغوي ته پکار ده چي په مذاکراتو کي په پوره جرئت اوتدبیر برخه واخلي .

داسي چي دمجاهدینو ترمنځ په مسایلو پوره توافق شوي وي اوپه بشپړ قوت دخپلو واضح ، برحقو اوعادلانه مواضعو اومنطق په زور روسان په ازموینت کي واچوي،روسانو ته نه دخبرو تاوډلو راتاوولو موقع ورکړي او نه ددي چانس چي په جعل اوتقلب ځان دسولي علمبرداران وښودلاي شي اومذاکراتو ته دجدي قاطع اوچټك جریان ورکولو په وسیله دالاریري وتړي چي له خبرو اترو څخه ناوړه استفاده وکړاي شي،پکار ده چي دخبرو اترو تر پیل دمخه موثر اوحساس تنظیمونه خپل نظامي قوتونه فعال کړي ، اوددي ترڅنګ دخپلو مواضعو دنږدي کولو تصمیم اعلان کړي اودځه ګډولویو غونډو اهتمام وکړي، دابه په خبرو اترو کي ددښمن موقعیت سست اودمجاهدینو موضع پیاوړي کړي .

البته موږ دانه وایو چي له دي مذاکراتو به حتماً څه خبره جوړیږي، ځکه غالب ګومام دادي چي روسان پدي کي مخلص نه بریښي چي قضیه دي له مجاهدینو سره حل کړي ، بلکي غواړي له واشنګټن سره په توافق کي دافغانستان دبحران حل ولټوي اوغواړي له مجاهدینو سره خبري اتري دتاکتیکي اهدافو لپاره په لار واچوي،دهمدي لپاره ده چي موږ وایو مجاهدین په وحدت ، قاطعیت اوجدیت سره په خبرو اترو کي په خپل چارچلن سره کولاي شي روسان دنړیوالو په وړاندي دیوه ازموینت په درشل کي ودروي اودهغوي له لاسه داتاکتیکي حربه وغورځوي اوکه احیاناً روسیه غواړي چي له مجاهدینو سره په فیصلو کي دافغان قضیي حل محقق شي بیاهم زموږ مضبوط لاس او پیاوړي موضوع ده چي دګران اسلام اومسلمان افغان ولس دعزت اومصلحت متضامن کیداي شي .

يوشرمناك « ذهنيت »٬ يوكرغيړن « ميلان » . . . !

ډيره غموونكي ده چي په يوه داسي ترخه واقعيت خبري كوو چي كه يي مخه ونه نيوله شي او عاملين يي په ځاي كشېنول شي داسلامي انقلاب په لمن به ديوه تور داغ په توګه پاتي كيږي داسلام په بدنامي به ټاميزي اوزموږ ټوكر ټوكر ملت به په نويو ويرونو اونويو فاجعو اړوي .

دا بدشاګومه واقعيت زموږ دجهاد اوجهادي احزابو په ليكوكي د« قوم » « ژبي » او « سمت » په نامه دافتراق اوبيلتون لوګړن اورته لمن وهل دي . موږ پوهيږو چي پدي وختو كي چي زموږ جهاد دمعلومو دښمنانو دتوطيو اوستونزو له خطرناك ازموينښت سره مخامخ دي شايد ځيني ورونړه دابنه ونه بولي چي د خپلو صفوفو يوي داسي معضلي ته ګوته ونيوله شي اوپري خبري وشي چي مايوسونكي اوپريشانونكي وي مګر ددي حقيقت هيرول ندي پكار چي ډيري خوشبيني اوله واقعيتونو اغماز ولسونه اوغورځنګونه له سانحوسره مخامخوي او هولناكو ګړنګونو ته يي غورځوي ،دژونديو اوبيدارو ټولنو مشخصه داده چي واقعيتونه په خلاصو سترګو وګوري ،اوپه تدبير اوجرئت ورسره برخورد وكړي . له ستونزو سترګي پټول كيداي شي ديوي لنډي مودي په كاذب تسكين تمام شي مګر ورروستي نتيجه به يي له خوفناك سقوط پرته بل هيڅ نه وي . فاجعي اوسانحي چاته له اعلانونو اوبيرغونو سره نه راځي ، بلكي دبي غوريو اوبي پروائيو په ادامي سره ناڅاپه په ولسونو چاپي اچوي ، له دي امله ده چي موږ د« فاشيزم » اومشركانه تعصب پربلا غزيدل يو ضرورت ګڼو .

پدي كي هيڅ شك نشته چي لكه څه وړ چي د بيلا بيلو او رنګارنګ هغو افتونو تر شاچي زموږ مظلوم جهاد ورسره په مقابله كي دي داسلام اوزموږ دبرمپال ملت دځرګندو دښمنانو لاس دي ، ددي مصيبت تر شاهم حتماً دهغوي قوي نقش دي خو درد وونكي داده چي پدي كي ځيني هغه حلقي هم ملوثي دي چي ځانته مسلمان انقلابيون وايي ، داسلامي انقلابي حركت داهدافو شعارونه عنوانوي ، اوپه افغانستان اوټوله نړي كي داسلام حاكميت خپل ورروستي « ارمان » ګڼي دا دروغجن « انقلابيون» او التقاطي مجاهدين له اسلامي نهضت اوانقلاب سره دومره ستر خيانت كوي اواسلام ته داسي لويه ضربه وركوي چي شايد دښمن يي په ډير كار هم ونكړاي شي .

دوي پداسي حال كي چي د اسلام اساسي ترين اصل چي دايمان اوتقوي پر بنسټ فكر ،قضاوت اوموضعګيري او چال چلن دي نفي كوي اودانحراف په بدترينه لار چي عصبي شرك دي مخه كوي،زموږ داسلامي انقلاب ماهيت ، مشخصات اواهداف ترجدي پوښتنولاندي راولي .

كله چي يو څوك وګوري په يوه صف كي عملاً دسياسي شرك پر بنسټ فكر ، قضاوت اوبرخورد كيږي څنګه به باوروكړي چي هلته‌و داسلامي حكومت اسلامي عدل اوتوحيدي نظام د اقاهي شعارونه هسي غولونكي نعري نه دي ؟

كه له ولس سره دا تشويش راپيدا شي چي موږ كم تر كمه دملي وحدت دساتني ظرفيت اوكفايت هم نه لرو زموږ انقلاب ته به څه ابرو ورپاتي شي ؟

آيا هغوي حق نلري چي ووايي داخلك په اسلام باندي ديوه دين اومكتب په توګه نه بلكي ديوي سياسي وسيلي په حيث باور لري ؟

زموږ له هغو مشرانو نه چي دانقلابي احزابو قيادتونه ورپه غاړه دي هيله ده چي پدي ستونزه جدي سوچ وكړي اوددي « ذهنيت » او« ميلان» له فاسدو خورونكو سره په قاطعيت چال چلن وكړي اوپرينږدي چي دجهادي احزابو اعتقادي صبغه اواهداف د« قوميت» « مليت» او ژبي » دپاللو په شركي رنګ ولړل شي، تركومه چي تراوسه ليدل شوي متأسفانه داحلقي دمنظم پروګرام او ځانګړي مهارت له مخي خپريږي اووړاندي درومي ، بايد محترم رهبران په ياد ولري چي زموږ ټول عزت اوقوت زموږ دمبارزي په اسلاميت اودانقلاب په اعتقاديت كي دي ،كه مودااصل خداي مكړه ولړزيد بيا نور هيڅ هم نه راپاتي

کيږي ، بيا به دنورو په مقابل کي زموږ ماتي او سقوط هغه هم له رسوايي اوذلت سره له حتميا تو وي ، له دي امله دانقلاب داعتقادي صبغي ساتل هغه حقيقت دي چي دځو فتنه گرو اوگمراه حلقو په خير زر « مصلحته » خو يي دي په ښنو کي ذبح شي .

« عماد » صاحب سم واي خو .... !

« اميد » مجلي په خپله وروستي گڼه کي دجمعيت اسلامي افغانستان دمنشي محترم سيد نورالله « عماد » يوه په زړه پوري تحليلي مرکه خپره کړي ده،په هغه کي ښاغلي عماد داسلامي تحريک دراڅوندي کولو دحرکت په باب پوښتنو ته ځواب ويلي دي نوموړي داسلامي تحريک دراڅوندي کولو دهاند هدف د« امت » جوړول اوپه طبيعي لار داسلامي انقلاب دبري لپاره دجوړقوت چمتو کول ښودلي دي ده ددي حرکت ترشا دهړول انتقامي سياست انگيزي ردي کړي او هغه يي له هر راز گروپيکو صف بنديو اوسياسي اهدافو ني لوړ گڼلي دي .

محترم عماد وائي چي دغير طبيعي شرايطو اوفوق العاده حادثو راتلوزموږ تحريک قهراً له خپل اصلي کار چي دولس روزل اوجوړول دي ليري کړ اوس ددي حرکت منسوبينو تصميم نيولي چي پدي برخه کي تلاش وکړي .

حقيقت دادي چي دعماد صاحب په دي خرگند ونو کي پوره وزن دي ځکه که موږواقعاً غواړو چي اسلامي انقلاب وکړو اواسلامي زعامت اوحکومت ولرو نو ددي لپاره که هر څومره سياسي اونظامي بدلونو نه راوستل شي خو تر څو چي په ټولنه کي فکري اوذهني بدلون رانشي ، تر هغي مو داهيله نشي پوره کيداي .

له دي امله څوک هم چي پدي اړخ کي پيشقدم شي اوددي ستر رسالت په تقاضا وو پوره وخيژي مستقبل دهغوي دي ،کيداي شي دا کار په پيل کي له محروميت سره ملگري وي ، اودسياست په اوسني له کش وپش او هياهو يه ډک ميدان کي ني نا اشنائي په نصيب وي خويووخت به دزماني څپو او دحوادثو بهير داوسني حالت ډيري صفحي اړولي وي ، مگر دهولني دنظرياتي جوړوني عمليه به ديوه ژوندي حقيقت په توگه صحني ته راوځي اودمسلمانو انقلابيونو دارمان دتحقق ديواځيني مجرا موقعيت به گټي .

البته دا په ياد ساتل په کار دي چي څومره دا رسالت اوهدف لوړ ، مقدس اوارزښتناک دي ، همدومره لوئي فکري امادگي اوقوت پاخه ايمان ، پولادي عزم ، له مقطعي گټو اوموقعيتونو اوچتي روحي اونظر اوپه لوي ارمان باندي اعتقاد درلودوته اړتيا لري .

همداراز څومره چي دا داعيه متعالي اوارماني ده همدومره پکي سقوط او انحراف دردوونکي اومايوسونکي دي همدومره ني دوړو اهدافو اوعقده ني ميلان لپاره استخدامول لويه گناه ده .

> داسلامي مفکوری تقاضا ده چي موږ بايد داسلام هرکلي تصوير اوجهت باندي وپوهيږو ، داسلام روح ، معني او حقيقت ، درک کړو چي په موږ کي ذهني اوعملي انقلاب رامنځ ته شی

حبيب الله

مرحله گذار از جنگ به صلح

دو مرحله اول جنگ انقلابي را ملت مابصورت بي نظير پشت سر گذاشت . مرحله اول كه گذار از صلح به جنگ بود خيلي درد ناك از مراحل بعدي گذشت . درين مرحله دشمنان خلق زيرنام خلق برخلق شمشير كشيده وفرزندان خلق را زنداني ، اعدام وزنده بگور نمودند وبدين ترتيب جنايت بزرگ را در اوراق تاريخ بصورت تاريك جاويدانه ماندند .

ظلم وستم حزب مزدور بود كه مردم را به راه قريب فراموش شده متوجه ساختند مردم درطاق فراموشي سپرده را از دستمالهاي رنگه ي گردآلود بيرون كشيدند آنرا مشعل راه ساخته وتحت فرمان آن در راه جهاد في سبيل الله پيش رفتند وعقب نگشتند .

قرآن بار ديگر پشتوانه وچراغ راه جنگ دليرانه ي مردم ماگشت واز همين سبب ملت غيور ما بارديگرتسخير ناپذير وبت شكن وسالار قافله استقلال وآزادي خواهي ملل در زنجير كشيده شد . در مرحله اول مردم آهسته آهسته بسوي جهاد آمدند تا قيام مردم سرتاسري وهمه گير گشت .

درشروع مرحله دوم مردم دنيا ناظر حمله غول نظامي بر مردم بيچاره افغانستان بودند وتبصره هاميشد وهركشور مطابق سليقه خود براي شكست ما زمان تعيين مينمود ولي مردم ما مقاومت نمودند مقاومتي كه در آن مرز هاي مفهوم مقاومت قبلي شكسته شد ومقاومت غناي بيشتر يافت .

تداوم جهاد مسلحانه وهمه گير شدن آن جهانيان را متوجه ساخت كه مردم اين سرزمين مردم نوع ديگراند ، مردميكه توانايي آنان رانميتوان با معيار هاي معمول بورژوازي سنجيد لذا هر نيروي ضد كمونيسم شوروي بنابر مصالح ملي خود در جهت دفاع از مقاومت ماقرار گرفت ودرعرصه هاي مختلف در جهت منافع خود از انقلاب ما پشتباني نمودند . مردم ما اين مرحله را با وجود خسارات وتلفات با سربلندي پشت سر نهادند وتوانستند آن غولي را كه چشم غولهاي ديگر از ديدن به آن ميسوخت طوري به زمين ذلت زنند كه بخاطر جمع وجور نمودند خود محتاج حريف ديروزه گشته است .

با لاخره ما آهسته آهسته بسوي مرحله ي آمديم كه بايد از جنگ به صلح بگذريم ، جنگ بايد پشت سر گذاشته شود وصلح بايد جاي خونريزي را بگيرد تا جامعه بار ديگردر سيرنور مال زندگي بيافتد ونيروي انساني در جهت اعمار بكار گرفته شود .

با لاخره ما آهسته آهسته بسوي مرحله ي آمديم كه بايد از جنگ به صلح بگذريم ، جنگ بايد پشت سر گذاشته شود وصلح بايد جاي خونريزي را بگيرد تا جامعه بار ديگردر سيرنور مال زندگي بيافتد ونيروي انساني در جهت اعمار بكار گرفته شود . واين درست همان آرمانيست كه بخاطر آن تفنگ بر داشته شده است ماتفنگ بر داشتيم تا دشمن تفنگ به زمين نهد ، ماكيستيم تادشمن ازهيبت كشته هاي خود از جنگ دست بر دارد ، ما فير نموديم آنهم با صداي پر رعب ودهشتناك تاصداي فير دشمن پائن آيد ، ماشهيد ددايم تادشمن شهامت حكومت نمودن را از دست بدهد . طولاني بودن وكوتاه شدن اين مرحله مربوط به موضع گيري متحدانه نيروهاي جهادي است . اگر مجاهدين درين مرحله فريفته صلح كاذب نشوند وبر جهاد مسلحانه بمنظور تحكيم صلح پافشاري نمايند يقيناً اين مرحله از كوتاه ترين مراحل جهاد مسلحانه ماخواهد بود . در غير آن مامجبور خواهيم بود در مدت نسبتاً طولاني د شمن رااز اريكه قدر پائن بياوريم .

در مرحله گذاراز جنگ به صلح گفت وشنيد با دشمن اصلي يك امر ناگزير است بناء مجاهدين مجبور اند با روسها داخل مذاكره گردند ولي چيزيكه نبايد فراموش شود اينست كه ملاقات باروسها بايد از مواضع يك ملت فاتح

وپيشنهادات ما بايد ممثل ملت غيور ما باشد . ما بايد بدانيم كه باروسها برسر مسائل تجارتي واقتصادي در معامله نيستيم كه بر بالا وپائن بودن نرخ چنه بزنيم . ما با روسها بر سرحاكميت ملي ،استقلال وخود اراديت برسرپيكاريم . اگر روسها استقلال

> در مرحله گذاراز جنگ به صلح گفت وشنيد با دشمن اصلي يك امر ناگزير است بناء مجاهدين مجبور اند با روسها داخل مذاكره گردند ولي چيزيكه نبايد فراموش شود اينست كه ملاقات باروسها بايد از مواضع يك ملت فاتح وپيشنهادات ما بايد ممثل ملت غيور ما باشد

وحاكميت ملي ملت مجاهد ما را بدون قيد وشرط مي پذيرند وبه جبران خسارات جنگ تن ميدهند ، هرنوع مداخله در امور داخلي ما را قطع شده اعلام ميدارد درانصورت مجاهدين حق دارند بر مجموع مسائليكه به هر دو طرف رابطه ميگيرد بر ميز مذاكرات بنشينند در غير آن از طرف دشمن بامذاكرات بي نتيجه مصروف نگهداشته شده ودشمن از فرصت استفاده ميبرد .

ما با يد از نياكان مجاهد خود بياموزيم زمانيكه جنرال الفنستن به مكناتن پيشنهاد ميكند كه جهت نجات عساكر انگليس بايد افغانها في الفورمصالحه شود مكناتن هم بدون معطلي روز بعد با نماينده مجاهدين بنام سلطان محمد خان وارد مذاكره ميشود . نماينده مجاهدين بحق كه حق نمايندگي يك ملت سربلند وآزاد را ادا نمود وبه مكناتن گفت :« شما جنگ مارادیدید وضعف خود را درك كرديد . پس بايد اردوي انگليس كابل را ترك بگويد وسپاه سيل از جلال آباد به هندوستان مراجعت نمايد وهم شاه شجاع با خاندانش به ملت سپرده شود . »

زمانيكه مكناتن نپذيرفت سلطان محمد خان مذاكرات را قطع كرد وحاضر نشد با بازي باكلمات وقت خود را ضايع كند .

در مذاكرات فعلي با روسها هم بايد بيش شرط ما قاطع وجدي باشد ما بايد روي مسائل اساسي فشار بياوريم وقبل از هر موضع ديگر روي آن صحبت نمايم

در صورتيكه دشمن حاضر به پذيرفتن خواسته هاي اساسي مانباشد دوام مذاكرات بي نتيجه روحيه دشمن روحيه باخته را تقويت ساخته وخواسته هاي دشمن بالا ميرود كه بخاطر دوباره پائن آوردن آن باين محكمتر جنگيد وبدين ترتيب بر تعداد تلفات خود خوهيم افزود .

اينكه در مذاكرات عده از رهبران مجاهدين با روسها در مسكو عوض مسائل اساسي بر موضوعات فرعي صحبت صورت گرفته وبا وجود آن رهبران مذكور برايش تبليغات وسيع مينمايند چيزي نيست جز اينكه بصيرت سياسي آنها زير سوال قرار گيرد . اگر روسها ميخواستند اسيران جنگي خو د را اهميت دهند حق داشتند زيرا كه آنها در رابطه با جنگ افغانستان فعلاً با همين معضله دچار اند ودولت شان از طرف مردم خود تحت فشار قرار دارد ولي جمع رهبران مجاهدين حق نداشتند انرا جدي تلقي كنند .

در مذاكرات با روسها بايد روي مسائليكه با آنها رابطه ميگيرد صحبت شود . اينكه بعداز حل وفصل مسائل با روسها ما چگونه وبه چه شيوه حكومت ميسازيم وملت ما چه راهي را در پيش ميگيرد اين درست همان چيزيست كه محتوي حق تعيين سرنوشت را ميسازد كه درين باره ما نميتوانيم ونه‌ميخواهيم ونه مجبوريم كه تائيد ديگران را حاصل كنيم . اين پرابلم ملت ماست وفقط ماميتوانيم در باره آن فكر كنيم درين زمينه هر كشوريكه بخود اجازه فكر كردن بدهد بمفهوم جواز دادن به مداخله خود است .

ما اساس ترين مسائل خود را تاآنجا كه به مجاهدين ودشمن مربوط ميشود از طريق اتحاد مجاهدين بدون داشتن تشكيلات حكومتي ميتوانيم حل وفصل كنيم . اين امر شايد در كشور هاي ديگر جواز تاريخي نداشته باشدولي ملت ما چون ملت نوع ديگر است در حل قضايا هم بشيوه مخصوص بخود عمل ميكند ، بشيوه ايكه براي جهانيان تصور آن هم كار دشوار است .

زمانيكه معاهده ۱۱ دسمبر ۱۸٤۱ بين رهبران مجاهدين ونمايندگان انگليس امضاء ميشد طرف مقابل داراي دولت نيرومند مركزي بود در حاليكه مجاهدين فاقد سيستم حكومتي ونظم دولتي بودند . ولي با وجود آن هيئت دوازده نفره مجاهدين توانستند ملت خود را تمثيل كنند طوريكه بعدازان بصورت مسلسل شاهان افغانستان باداشتن دولت مركزي از امضاي چنين موافقت نامه با دولت انگليس كه در آن عزت ووقار ملت مجاهد ما حفظ گردد عاجز شده اند .

حالا كه مرحله گذار به صلح رسيده پيش از دشمن نبايد تفنگ بزمين گذاريم ، تفنگ زماني بشانه برود كه ديگر ضرورت فير نمودن نباشد واين ضرورت زماني كاملاً از بين ميرود كه دشمن شكست خورده شكست خود را پذيرفته خواسته هاي مجاهدين را قبول وحاكميت آنانرا برسميت بشناسد .

آیا دافغانستان په باب دپاکستان په دریځ کی بدلون راغلی ....؟

ایران ولی چوپ دی ....؟

پدی وروستیو کی داذهنیت زیات خپور شوی چی پاکستان هم دافغانستان دقضیې دسیاسی حل له هغی پروسیی سره چی دواشنگټن په ابتکار روانه شوی پوره توافق کړی .

تیره میاشت چی دجهادی احزابو مشران دپاکستان صدراعظم نواز شریف لاهور ته وربللی وو ، دهغه جریان په غیررسمی توگه داسی ترغوږوشو چی نواز شریف مشران دسیاسی حل په پروسه کی گډون ته تشویقول اونظرئی هغو ډلوته ورنږدی وو چی دملگروملتوله طرحی سره ئی توافق ښودلی .

پدی غونډه کی وپتیله شوه چی مجددی صاحب به نیویارک ته دیوه هیأت په مشری ځی ، پدی برسیره دقبلی توافق پرخلاف دمجددی صاحب دټینگار له امله داخبره هم تقریباً دپاسیدو حد ته ورسیده چی مسکو ته دتلونکی هیأت مشری به هم مجددی صاحب کوی : دا خبره په استاد ربانی صاحب بده ولگیده اوپه ډیره تونده لهجه ئی خپلو ملگروته وویل چی دا سړی (مجددی)خوپه هیڅ تعهد ندی ولاړ

استاد ربانی صاحب د مجلس درخصتیدو پروخت دمجددی صاحب خواته ورغی او ورته ونی ویل چی :« تاسی مخکی منلی وه چی مسکوته دتلونکی هیأت مشری به زه (استاد ربانی)په غاړه لرم ، اوس څنگه ...؟ » مجددی صاحب په ډیر صراحت ورته وویل چی:« هو مادا خبره کړی وه ، خو اوس خپله پخوانی خبره بیرته اخلم اووایم چی مسکوته به هیأت زما په مشر تابه ځی ».

ویل چی دپاکستان صدراعظم کټ مټ دافغان قضیی دهغه حل غوښتونکی دی چی امریکائی غواړی اومور (ملی گرایان) ورته کوښښ کوو- مجددی صاحب له همدی روحیی سره نیویارک ته ولاړ هلته ئی هم دیوی مرکی په ترځ کی وویل چی دپاکستان حکومت اوصدراعظم دده دسیاست تر شاولاړدی خویواځی دپوځ ځینی منصبداران ئی مخالفت کوی .

مجددی صاحب په نیویارک کی

> استاد ربانی صاحب د مجلس درخصتیدو پروخت دمجددی صاحب خواته ورغی او ورته وئی ویل چی :« تاسی مخکی منلی وه چی مسکوته دتلونکی هیأت مشری به زه (استاد ربانی)په غاړه لرم ، اوس څنگه ...؟ »

له دی غونډی دری جهادی تنظیمونه چی د « ملی گرا »په نامه یادیږی ډیر خوشحاله ووتل هغوی په خصوصی مجلسونو کی داخبره کوله چی نوازشریف په نوموړی غونډی کی دحکمتیار صاحب غیابت ډیر جدی نیولی واو زیات پری خپه و ،اوهم ئی دا

دروسیی دبهرنیو چارو دوزیر په گډون له بیلا بیلو نورو شخصیتونو سره وکتل ، پدی کتنو کی خو طبعاً نورو لوروبو په تیره دواشنگټن اومسکو مامورینو له مجددی صاحب سره په ډیر ه پولیسی زرنگی ته ورته دیپلوماتیکی مهارت چلن کړی ، دهغه دذهنی اوروانی جوړښت په پام کی

نيولو سره ئی ورته تلقين کړی ، چی دده دريا ست جمهوری په باب ورسره هيڅ ملاحظه نشته،مجددی صاحب دی تلقين هيجانی کړ خدای «ج» خبر چی دمذاکراتو په کوټوکی به ئی لانور څه ورسره ويلی وی اوڅه به ئی ورسره منلی وی،خودا خبره ئی بهرته راووته چی دصدراعظم په توګه دفضل حق « خالقيار » په پاتی کيدو ورته قانع شوی و .

کوی نورمشکل نشته . له نيويارك نه تر راستنيدو وروسته ئی په پيښور کی يوی غونډی ته وويل چی « مطمين اوسی ،ډير ژربه زه کابل ته ځم ، رياست جمهوری به نيسم ،روس هم په ماقانع دی، امريکا هم ، اعراب ، ايران اوپاکستان هم - ټول ملت ماغواړی په کابل کی خو اوس زما يو عکس په پنځه زره افغانی پلورل کيږی اوپه تلويزيون کی پداسی حال کـی بنـودل

ددي غونډي په نتيجه کي تصميم ونيول شو چي بايد مسکو ته هيأت داستاد رباني تر مشري لاندي ولاړشي ، دي کار مجددي صاحب ډير په غوسه کړ بي له دي چي ورپه ياد کړي چي څو ورځي دمخه ئي دپاکستان دحکومت دسياست ستاينه کړي،په تونده لهجه ئي پري ټکونه وکړل اوويي ويل چي دپاکستان لاسوهنو نورپوزي ته رسولي دي اوډير ژربه دافغانستان يوي ازادي سيمي ته ولاړ شي .

ددی له پاره سنه ډير اوقوی دلايل شته چی نه امريکا غواړی چی مجددی صاحب دی په افغانستان کی دچارووواګی په لاس کی واخلی اونه روسيه - له هغه نه يواځی دخپلی پروسی پدی پړواکی چی جهاد تخريب کړی استفاده کوی، ددی کارد تر سره کيدو وروسته نی بيا دده نقش ته اړتيا ختميږی په ده کی يواځی دتخريبی عمليی عنصر ګوری نه دحکومت جوړولو اوچارو دسنبالولو قوه .

مګر مجددی صاحب په ظاهری مسايلو دومره تيروتی چی فکر کوی بس دده اوکابل د« ارګ » ترمنځ نور ډير واټن نه دی پاتی اودده په خپله وينا فقط څلورتنه دی چی مخالفت

کيږم چی دګلانو اميل می په غاړه کی وی » .

په همدی غونډه کی يوتن تری پوښتنه کوی چی :« حضرت صاحب داقتدار انتقال به څه وړکيږی ؟» په ځواب کی ورته وايی چی دی ته به څه پروګرام جوړوو ، کله چی پوښتونکی ټينګار کوی چی که په څه چوکاټ اومشخصاتو يی رڼا واچوی ، مجددی صاحب ځواب ورکوی چی له دی پوښتنو دی داسی معلوميږی لکه چی دحزب اسلامی سړی يی .

په هماغو ورځوکی په پاکستانی ورځپاڼو کی دارپوټونه هم خپاره شول چی دګيلانی صاحب اومجددی صاحب ترمنځ اختلاف پيدا شوی اوهغه په دی

چی ګيلانی صاحب وايی چی زموږ پروګرام دادی چی ظاهرشاه دحکومت په رأس کی راشی .هغه هم دحکومت تجربه لری اوهم خلك پری راټوليږی اومجددی صاحب ورته ويل چی پداسی حال کی چی ټول لوری په ما قانع وی ظاهر شاه ته څه ضرورت دی .

دغي روحيي او برداشت مجددي صاحب نورهم دي ته هڅاوه چي روسيي ته دمجاهدينو هيأت دده تر مشرتابه لاندي ولاړشي .

دپاکستان صدراعظم روسيي ته دمجاهدينو د هيأت ليږلو په موضوع دخبرولپاره جهادي مشران اسلام آباد ته ورويلل .

پدي خبروکي حزب اسلامي داسي سنودلي چي دمجددي صاحب تر مشري لاندي مسکوته دخپل نماينده ليږلوته په هيڅ توګه چمتو ندي ، مګر که دهيأت ،

رياست داستاد رباني صاحب په غاړه وي په هيأت کي ګډون کوي بل داچي هيأت بايد دداسي چاترمشري لاندي وي چي کله په مذاکراتو کي څه وايي مقابل لوري يي په عملي پشتواني باوري وي .

پدي لړکي استاد رباني صاحب استدلال کړي چي کله په مسکو کي په جنګي اسيرانو خبري کيږي نو دهيأت مشري بايد داسي څوك په غاړه ولري چي کم ترکمه دجګړي دوه بنديان خوولري په هر حال ددي غونډي په نتيجه کي تصميم ونيول شو چي بايد

مسکو ته هیأت داستاد رباني تر مشري لاندي ولاړشي ، دي کار مجددي صاحب ډیر په غوسه کړ بي له دي چي ورپه یاد کړي چي څو ورځي دمخه ئي دپاکستان دحکومت دسیاست ستاینه کړي په تونده لهجه ئي پري ټکونه وکړل اوويي ويل چي دپاکستان لاسوهنو نورهوزي ته رسولي دي اوډير ژربه دافغانستان يوي ازادي سيمي ته ولاړ شي .

دي حالت په طبيعي توگه ځني داسي پوښتني راپيدا کړي چي دافغانستان دقضيي په برخه کي دپاکستان سياست څه دي ؟

ددي پوښتني دځواب لپاره چي نړيوالي سياسي وضعي ، دپاکستان دواکمنو فکر اومزاج ، دمنطقي شرايطو اودپاکستان ملي گټو ته ځير شو هغه داسي ښيئ چي پاکستان دافغانستان دقضيي په باب دضياء الحق ستراتيژي ته گرځيدلي دي .

البته ددي خبري معني دانده چي دوي به وکړاي شي هغه حالت ته ورته وضع رامنځ ته کړاي شي چي دضيا الحق په وخت کي وه .ځکه په هغه حالت کي دضياء الحق د شخصيت ، فکر اوسياست دفکتورونو تر څنگ دنړيوالي وضعي کيفيت اوزمور دبحران دبهي څرنگوالي هم دخيل و،مگر په هرحال اوسني جهاني اوسيمه ايزي اوضاع پاکستان پدي مجبور کړي چي دافغانستان قضيي ته داهميت په سترگه وگوري .

اوس دا خبره په ځاي ده چي دروسيي له لوري پاکستان ته متوجه خطر له منځه تللي دي ، مگر پاکستان دا په هيڅ توگه نشي هيرولاي چي دامريکا له خوا ورته شديده خطره ده امريکا ـ دنوي نړيوال نظام دنقشي په کربنو کي پاکستان يوه نښه ټاکلي ده ، هغوي غواړي پاکستان تر بيلا بيلو فشارونو لاندي ونيسي ، دعدم استحکام ښکارئي کړي تر څو ونشي کړاي چي ديوه مضبوط سيمه ايز قوت په بڼه تبارز وکړي .

دهمدي لپاره ئي په پاکستان باندي خپلي ټولي مرستي بندي کړي اوحتي د جاپان په گډون نور هيوادونه هم هڅوي چي له پاکستان سره دهمکاري معاملي ته راوړاندي نشي .

ددي په مقابل کي له هند سره خپلي اړيکي ټينگوي ،اقتصادي مرستي ورسره کوي،پوځي ټرون اوداستخباراتي معلوماتو دتبادلي اوگډونظامي تطبيقاتو معاهده ورسره لاسليکوي .

ددي تر څنگ چين يواځني ستر اواتومي قوت دي چي دامريکا دنوي نړيوال سيستم مخالفت کوي .

ايران هم همداډول سياست لري ، دا دواړه هيوادونه له پاکستان سره ډيري نژدي اړيکي لري ، نوله دي امله دا هيوادونه هم په گډه سره ديوه ښه طاقت په توگه چي يو وخت په اسياکي دامريکا گټو اواهدافو ته چلنج ورکړي د راڅرگنديدو چانس ته په طمع دي اوهم دامريکا له لوري دورته متوجه شديد وخطرونو دفاع ته پام کوي .

پدغسي يوه حالت کي دپاکستان لپاره گرانه ده چي دهغي پروسي داهدافو تحقق ته دي په اساني ښه راغلاست ووائي چي په افغانستان کي دامريکا دخوښي دحکومت په جوړيدو ټاميږي .

البته دا سياست پداسي شرايطو کي غوره کول چي له هغي امريکا سره دټکر خطر پکي پروت دي چي دبـي کچي غرور اومستي په نيشه کي ډوبه ده او دټولي نړي دايلولو نقشي جوړوي ، اسانه خبره هم نده .

له همدي امله ده چي دپاکستان ځيني مبصرين پدي عقيده دي چي پدي ځانگړي مقطع کي وطندوست پاکستانيان خپلي هيلي ددي هيواد په جمهور رئيس غلام اسحق خان پوري تړي ـ هغوي وائي چي نواز شريف ته چي نه دبهرني سياست دکړليچونو اوسړوتودو تجربه لري اونه له خپلو

> مجددی صاحب په ظاهری مسایلو دومره تیروتی چی فکر کوی بس دده اوکابل د« ارگ » ترمنځ نور ډیر واټن نه دی پاتی اودده په خپله وینا فقط څلورتنه دی چی مخالفت کوی نورمشکل نشته .

خاصو سیاسي ګټو دتیریدو او دخطرونو منل ورته اسان دي . ګرانه ده چي داسي خارجي سیاست دي پر مخ بوځي .

چي کله مجددي صاحب دملګرو ملتودکلني غونډي لپاره نیویارک ته ولاړ اوهلته دامریکا یانو اوروسانو په تودو ناستو ولاړو او په کابل کي دجمهوري ریاست په تودو هیلو واوښت ایرانیان یي هیر کړل له دي امله ایرانیان دیوڅه وخت لپاره له مشکل سره مخامخ شول .

داسي فکر کیږي چي دپاکستان زعامت پدي پوه دي چي دامریکا اختلاف له پاکستان سره تردي ډیر جدي دي چي دافغانستان دقضیي په باب یي دي پاکستان په تنازل کولو حل کړاي شي .

امریکا له پاکستان څخه غواړي چي اتومي پروګرام ختم کړي اودغیر اتومي کیدو پرتړون دي لاسلیک وکړي - دنومبر په میاشت کي چي دامریکا دخارجه وزارت مرستیال اودپوځ یو لوړ رتبه صاحب منصب پاکستان ته راغلل دتطمیع اوډارولو په روش یي عمل کاوه .

ویل کیږي چي پاکستاني مسئولینو ته یي داتومي پروګرام دختمولو په بدل کي دهر ډول اقتصادي اوسیاسي مرستو وعده ورکوله او ددي تر څنګ یي په لفافه کي څه ګواښونه هم کول مګر پاکستانیانو په ډیر قاطعیت ځواب ورکاوه چي تر څو نهد دا کارنه وي کړي پاکستان به هیڅ کله لاس پري پوري نکړي .

له پاکستان نه ددي امریکایي مامورینو دلیدني پروخت په پاکستاني مطبوعاتو کي داړپوټ خپور شو چي غلام اسحق خان دخپل هیواد پوځي اوملکي مامورینو ته لارښوونه کړي چي دامریکایانو دهیڅ ډول وعدي په مقابل کي دخپل هیواد اوولس له ملي ګټو څخه یوانچ عقبنشیني هم ونکړي .

څه موده پخوا چي غلام اسحق خان ایران ته کوم سفر کړي دهغه په باب هم ویل کیږي چي مهم هدف یي دافغانستان پر بحران خبري اتري وي . غلام اسحق خان غوښتل چي دایران واکمن پدي رابطه له یولږ نزاکتونه خبرکړي اوهغوي دي ته تشویق کړي چي په ګډه پداسي لاروچارو سوچ اوکار وکړي چي دافغانستان له قضیي دامریکا لاس لنډ شي اودبحران حل تر خپلي اغیزي لاندي ورنه وساتلاي شي.

داچي پدي اواخروکي دایران حکومت دافغان قضیي په باب تر یوه حده چوپ معلومیږي ددي یو دلیل هم دغلام اسحق وروستي سفر کیداي شي . ځکه ایران چي دافغانستان دبحران په برخه کي کوم تحرک ښوده ، هغه له هغي پروسي سره هماهنګ معلومیده چي امریکا په لاراچولي ده، شاید دپاکستان جمهور رئیس ایرانیان دي ته متوجه کړي وي چي داسیاست دسیمي دحالاتو په رابطه ددوي ګډو ګټو ته ګواښ دي .

که څه هم دایراني مسئولینو دخاموشي په برخه کي یوه خبره دا هم ګڼله کیږي چي په تهران کي د دري اړخیزو خبرو په وخت کي هغوي په مجددي صاحب ډیره سرمایه ګذاري وکړه ، په لوړ پروتوکول یي استقبال کړ، اونور مشران یي بیخي له پامه وغورځول ، ان تردي چي استاد رباني صاحب له ټولي حوصلي سره سره له ایرانه خپه راغي ، بیاچي ترهغه وروسته دملګرو ملتو سرمنشي تهران ته ولاړ یواځي دوي په اصطلاح « ملي ګرا » مشران یي وروغوښتل خوچي کله مجددي صاحب دملګرو ملتودکلني غونډي لپاره نیویارک ته ولاړ اوهلته دامریکا یانو اوروسانو په تودو ناستو ولاړو او

پدغسي یوه حالت کي دپاکستان لپاره ګرانه ده چي دهغي پروسي داهدافو تحقق ته دي په اساني سره راغلاست ووائي چي په افغانستان کي دامریکا دخوښي دحکومت په جوړیدو تماميږي .

په کابل کي دجمهوري ریاست په تودو هیلو واوښت ایرانیان یي هیر کړل له دي امله ایرانیان دیوڅه وخت لپاره له مشکل سره مخامخ شول .

دمحترم استاد ربانی له خولی دمسکو دخبرواترو تفصیل

له « زندگی » مجلی نه ژباړه :

دبدخشان اوسیدونکی «۵۲» کلن پروفیسر برهان الدین ربانی چی افغانان استاد ربانی ورته وایی دجمعیت اسلامی افغانستان مشردی . له روسانو سره دافغانستان درېړی په رابطه دړومبنیو سنجول شویو اوتاریخ جوړوونکو خبرو اترو له پاره دمجاهدینو د هیئت دمشر تابه ویاړ استاد ربانی ته وربه برخه شویدی په ۱۹۸۸ کال کی په جده کی دړومبی ځل لپاره دمجاهدینو او روسی حکومت دنماینده گانو تر منځ رابطه ټینگه اومخامخ خبری اتری وشوی . ددوهم ځل لپاره ددوی ترمنځ په اسلام اباد کی ملاقات وشو ، خو دجنرال ضیاء الحق له شهادت نه وروسته روسانو دغه خبری یوازی دروسی بندیانو ترخوشی کیدو پوری محدودی کړی . دجدی په خبرو اترو کی په سیاسی موضوعاتو بحث وشو خو دجنرال ضیاء له شهادت نه وروسته هغوی له ضیاء پرته دافغان جهاد په باب داسی دریځ غوره کړ چی دجنرال ضیاء الحق شهید دژوند په وخت کی یی امکان نه ؤ. یوکال همداسی تیر شو له ضیاء الحق شهید وروسته دبی نظیر بوټو دامریکا پلوی پالیسی تعقیب هم چی مجاهدین له پښنو ونشوای غورځولی نو دروسانو حوصله ختمه شوه ، دنجیب حکومت دساتلو لپاره هره

میاشت دوه نیم تر دری سوه ملیون ډالره پوری لگښت دروس پر اقتصادی ویجاړ حالت ستربوج شو ، داهغه حالات وو چی د ۱۹۸۹ تر دسامبر پوری روسانو دوه ځله په غیر رسمی ډول له مجاهدینو سره درابطی ټینگولو زیار ویوست . د ۱۹۸۹ له دسامبر نه د ۱۹۹۰ تر اپریل پوری هغه وخت ؤ چی زه دروسی حکومت په بلنه مسکو ته ولاړم ، دبی نظیر بوټو حکومت دافغانستان دمسئلی پالیسی امریکایانو ته حواله کړی وه ، ځکه خود ۱۹۹۰ کال دمی میاشتی تر رارسیدو پوری دغه هلی ځلی له ناکامی سره مخ شوی .

په راتلونکی یوه کال کی دروس ویجاړ اقتصادی اوسیاسی حالت اوبیا د ۱۹۹۱داگست ناکام بغاوت روسی مشرتابه له افغان ربړی نه زر ترزره دخلاصون خیال ته مجبور کړ ځکه چی روسان له ۸۹ کال څخه را په دی خوا له خپلو پوځونو ویستلو پرته تر اوسه په افغانستان کی بشپړ مصروف وو ، داهغه حالات وو چی روسان دلومړی ځل لپاره دافغان مجاهدینو سره دمخامخ خبرو اترو په میز کیناستل او دیارلس کاله وروسته

دلومړی حُل لپاره دربری اصلی دواړه لوری یو بل ته مخامخ کیناستل .

دجمعیت اسلامی افغانستان مشر پروفیسور ربانی دلویو اووگوندونو د شل کسیز هیئت په مشری مسکو ته ولاړ ، دمجاهدینو له لویو رسمی گوندونو څخه دری گوندونه له دی هیئت سره نه وو چی په هغوی کی دحزب اسلامی غوندی ستر گوند هم نه ؤ .

دتش په نامه عبوری حکومت دجمهور رئیس صبغت الله مجددی د هیلی اوتمی سره سره مسکوته دتلونکی هیئت مشری استاد رباني ته سپارل هم ځانگړی کیسه ده ، دحزب اسلامي افغانستان مشر انجنیر گلبدین «حکمتیار» مسکوته دهیئت دتگ لپاره دخپل گوند دشمولیت په شرطونو کي لومړي شرط دا ښودلي و چي دهیئت مشر به استاد رباني وي . دهغه څیني نور شرطونه دخبرو اترو اجندا ټاکل ، پر مزدور رژیم دسملاسي مرستو بندیز او دخبرو اترو لپاره دیو دریم هیواد ټاکل وحزب اسلامي اوجمعیت اسلامي دوه هسي ستر گوندونه دي چي عملاً د « ویتو» حق لري . دغه دواړه گوندونه دافغانستان له دریو نه دوی برخي مجاهدین اوجبهي په واك کي لري ، نوځکه له روسانو سره دخبرو اترو لپاره دحزب اسلامي د مشر انجنیر «حکمتیار» باور اواعتماد پر استاد رباني داسي خبره وه چي څوك يي له پامه نشي غورځولي . انجنیر حکمتیار په همدغي تدبیر دوه هدفونه تر لاسه کړل ، یو داچي دخبرو اترو واك اواختیار له روسانو سره دهغو گوندونو مستقل حق دي چي لویدیځ يي « بنسټ پال» بولي دوهم يي دموجوده عبوري حکومت دمودي ختمیدل ، غیر موثریت اودیوه نوي قیادت جوړول عملاً ثابت کړل .

> په لومړیو دوو ورځو کي ټولي خبري په ژبه وي اوشفاهي طرحي وړاندي کیدلي ، په دریمه ورځ موخپلي طرحي لیکلي وړاندي کړي هغوي زر ترزره عکس العمل ښودلو ته تیار نه وو څکه خومور سباته دوي ته دلیکلي طرحي وړاندي کولو وویل

دروس حکومت توده هیله وه چي دمسکو په هیئت او خبرو اترو کي انجنیر« حکمتیار» اویا دهغه دسیاسي چارو نائب انجنیر قطب الدین« هلال » گډون وکړي څکه روسان په دي پوهیدل چي دافغانستان په رابطه دحزب اسلامي اوجمعیت اسلامي توافق دحل بنیادي ټکي دي اوله دي دواړونه دیوه د نه موجودیت په صورت کي دافغانستان په اړه کړي پریکړي څوك نشي عملي کولي . دروس حکومت دوه تنه نمایندگان له انجنیر حکمتیار سره خبرو اترو ته اودمسکو خبرو اترو ته دهغه درضاکولو لپاره دافغانستان داخل ته ولارل ، دپاړچنار په لاره افغانستان ته ددوي دتگ راتگ لپاره ټول سهولتونه دهلیکوپټر په شمول برابر شوي وو . خو محترم حکمتیار د وروستیو ذکرشویو شرطونو نه پرته په مذاکراتو کي گډون ته تیار نه ؤ . دهغه ویناوه چي که دروس حکومت څه مثبت حرکت وښود په دوهم پړاوکي به پخپل گډون بیا فکر کوو . دمحترم حکمتیار دغه حکمت اغیزمن واقع شو اود روس حکومت په افغانستان کي داسلامي عبوري حکومت پر جوړیدو اوله نجیب نه پرته دمعاملي پرحل رضا مندي ښکاره کړه.

استاد رباني دکابل پوهنتون دشرعیاتو له پوهنځي نه دفراغت نه وروسته په همدغه پوهنځي کي ببرته استاد وټاکل شو چي دداود رژیم په وخت کي له اسلامي غورځنگ سره داړیکو په سبب له نظره گوښه شو استاد دهجرت اوجهاد دپیلوونکو مشرانو له ډلي څخه دي ، په شمالي افغانستان که احمد شاه مسعود اودهرات اسماعیل خان غوندي دنړیوال شهرت خاوند قوماندانان دده په گوند پوري اړوندي دادي دمسکو دخبرو اترو له اصلي شخصیت استاد برهان الدین رباني سره دمسکو دخبرو اترو په رابطه او دافغانستان ربړي دحل په باب له ده س مرکه :

پوښتنه : په مسکوکي ستاسو داوسیدو موده له ټاکلي وخته زیاته شوه ، دمسئلي په رابطه څه ستونزي وي اوکابل کي دنجیب رژیم پرځاي داسلامي عبوري حکومت دتأسیس تجویز روسي حکومت په کومه ورځ

ومانه ؟

ځواب : دخبرو اترو په پيل کي مور. يو دبل له موقف نه ډير لري وو ، هغوي زمور. ټول وړانديزونه ردول اومور. ددوي خبري نه منلي، زمور. اودوي تر منځ دخبرو اترو لپاره دريم مشترک بنياد نشو جوړيداي .

بيا په دي پريکړه وشوه چي داضرور نه ده چي مور. يو دبل سره په څه خبره متفق وو اوبايد هر هغه څه چي په زړه کي لرو برالائي يو دبل په وړاندي اظهارکړو ، وروسته به له سره پر معاملاتو دقت کوو په دوهمه ورځ دوي همغه پخواني خبري تکرارولي ، مور. ورته وويل که له تاسو سره همدغه نظر وي نو مور. هيڅ دلچسپي نه ورسره لرو ، هغوي ويل چي زمور. په مخکي زياتي ستونزي دي ، زمور. جمهوريتونه اوس هر يو جلا جلا نظر لري ، هغوي مختلف نظريات اوتجويزونه لري مور. به دهغوي له منځه يو ه لاره راوباسو ، تر دريمي ورځي پوري دخبرو اترو همدغه وضعيت ؤ هغوي پر مارغ وکړ چي :

« پروفيسور رباني ! زمور. دغه سياسي حالات تاسو درک کړي . »

ځکه ماله خپلو ملګرو سره په مشوره هلته يوه ورځ نورهم قيام اوزد کړ . خودوي ته مو ويل چي خپل وروستي اوحتمي طرحي مور. ته ليکلي راکړي . دري تيري ورځي به هر يوه دمخالف لوري تجويزونه پخپله ليکل اوبحث به يي ورباندي کاوه .

پوښتنه : لومړي يوازي ددري ورځو دپاتي کيدو پروګرام ؤ ؟

> په وروستي ورځ . کله چي مور. دجمعي دلمانځه لپاره د مسکو يوازيني جامع جومات ته روانيدو ماروس هيئت ته وويل چي په افغانستان کي دعبوري اسلامي حکومت جوړيدل زمور. وروستي تجويزدي .

ځواب : هوکي ! بيا مور. يوه ورځ نور هم زيات کړ ، وروسته موهغه بيا دوي ورځي کړ ، بالاخره ما دپنجشنبي په ماښام دوي ته وويل چي دوي سبا ٩ بجي مور. ته خپله ليکلي طرحه وړاندي کړي اوداهم بايد په پام کي ولري چي مجاهدين په هيڅ ډول اوهيڅ موقف کي هم دنجيب منلو ته تيارنه دي . که مو په کومه طرحه اتفاق رانه غي نو نورمور. نشو پاتي کيداي . يوه دقيقه هم نشو ځنډيداي دازمور. له لوري وروستي فرصت وبولي . سباته دوي مور. ته خپله وروستي طرحه ليکلي راوړه اومور. دهغي په باب په خپلو کي مشوره وکړه دجمعي په ورځ په هغي طرحه بحث ، خبري اتري اودهغي په ځواب کي زمور. طرحه ترتيب شوه تردي چي په دي اته فقره ايزه ګډه اعلاميه پاي ته ورسيده چي نړيوالو ته اعلان شوه .

پوښتنه : آيا دخبرو اترو په پيل کي تاسو روسانو ته خپله کومه ليکلي طرحه ورکړي وه ؟

ځواب : په لومړيو دوو ورځو کي تولي خبري په ژبه وي اوشفاهي طرحي وړاندي کيدلي ، په دريمه ورځ موخپلي طرحي ليکلي وړاندي کړي هغوي زر ترزره عکس العمل ښودلو ته تيار نه وو ځکه خومور. سباته دوي ته دليکلي طرحي وړاندي کولو وويل :

پوښتنه : ستاسو خبري اتري دشوروي اتحاد له کومو مقاماتو سره وي ؟

ځواب : زمور. زياتي خبري دهغه وخت دبهرنيو چارو وزير بورس پنکن اودهغه له نايبانو اودافغانستان داموروله تجربه کار ومشاورينو سره وي ، سر بيره پر هغوي مور. د روسي فدراسيون دجمهور رئيس له مرستيال الکزاندر روشکوي پخواني دبهرنيو چارو وزيرشيوارد نادزي « اوس بيرته دبهرنيو چاروزير دي » دروسي دفدراسيون دبهرنيو چارو له وزير اندري کوزي روف ، دتاجکستان دبهرنيو چارو له وزير محمد عبدالقيوم « قيوموف » اوهمدارنګه دازبکستان ، ترکمنستان اويوکراين دبهرنيو چارو وزارت د مرستيالانو اوشوروي اتحاد له ځينو نوروکسانو سره موملاقاتونه وشول .

پوښتنه : دشوروي اتحاد دمرکزي حکومت په موجوديت کي دجمهور يتونو دبهرنيو چارو وزيرانو اونمايندګانو ته څه ضرورت ؤ ؟

ځواب : جمهوريتونو په دغه مهمه مسئله کي خپل موجوديت ضروري باله هلته چي کوم حالات روان دي ټوله دنيا

وربانديِ خبره ده بيا موږ پخپله پيشنهاد کړې ؤ چې دشوروي اتحاد دريو جمهوريتونو ازبکستان ، تاجکستان اوترکمنستان نمايندګان په خبرو اترو کې بايد خامخا وي ځکه هغوي له افغانستان سره ګډه پوله لري . موږ ته وويل شول چې داتحاد شوروي دفعلي ددولس جمهوريتونو حخه دشپږو اسلامي رياستونو دبهرنيو چارو وزيران اونمايندګان موږ ته په مسکو کې ترېوي اوني زيات منتظر پاتې وو خو وروسته تللي وو دازبکستان دبهرنيو چارو وزير مرستيال موجود ؤ ، زموږ دغوښتني په وجه دترکمنستان دبهرنيو چارو وزير مرستيال هم راوغوښتل شو دغه ډول چې کله دمجاهدينو دهيئت مسکوته دتګ خبر خپور شو دنورو جمهوريتونو نمايندګان هم راغلل .

پوښتنه : تاسو دافغانستان له پولي سره پرتو جمهوريتونو دنمايندګانو په موجوديت ولي اصرار درلود ؟

ځواب : سپينه خبره داده چې زمـوږ غړوکي دازبکستان اوترکمنستان دبهرنيو چارو وزيران ونه ليدل نو دروس بهرنيو چارو وزير ساغلي بورس پنکن ته مي وويل چي ددغو جمهوريتونو نمايند ګان چيرته دي .

پوښتنه : له نجيب نه لاس په سر کيدل اوپه افغانستان کي يو اسلامي عبوري حکومت جوړيدل روسانو کله اوڅرنګه ومنل ؟

ځواب : په وروستي ورځ . کله چي موږ دجمعي دلمانځه لپاره د مسکو يوازيني جامع جومات ته روانيدو ماروس هيئت ته وويل چي په افغانستان کي دعبوري اسلامي حکومت جوړيدل زموږ وروستي تجويزدي .

که يي ونه مني نو زموږ اوستاسو خبري اتري نوري ممکن نه دي روسي حکومت خيال کاوه چي نور په نجيب اصرار اودهغه ملاتړ دوي ته له امکان نه لري دي ، په بل صورت کي به له افغان مجاهدينو سره ددوي خبري اتري بندي

پوښتنه : په مسکو کي تاسو دجمعي لمونځ ادا کړ ، ستاسو دراتګ دخبرپه وجه به زيات مسلمانان هلته راټول شوي وو ؟

ځواب : کله چي موږ جومات ته ورسيدو نو خلکو له مانه وغوښتل چي دلمانحه امامت زه وکړم ، دهغوي ډير اصرار زه دي ته اړ ويستم اوبيا مي هغوي ته خطبه هم ولوستله ، هلته دومره کسان راټول شوي وو چي تر يوه ساعت پوري ماله دوي سره مصافحه کوله بيا هم ډير کسان لا پاتي وو . او مابيا دخبرو اترو لپاره له دوي نه معذرت وغوښت .

پوښتنه : تاسو په کومه ژبه بيانيه ورکړه ؟

ځواب : په عربي مي خبري وکړي لږ او ډير په فارسي هم ، چي په ترکي ژبه يي ترجمه کيدله ، همدارنګه زما خبري په روسي هم ترجمه کيدلي .

پوښتنه : له روسي مقاماتو سره دملاقات په وخت کي مو دمختلفو روسي مشرانو په چلند کي څه توپير حس کاوه ؟

ځواب : دټولو چلند مثبت ؤ ، دبهرنيو چارو وزارت دافغاني امورو مشاور دخپلي تجربي له لحاظه زموږ خبري ښي درک کولي .

> حکمتيار صاحب خوزه دمسکو دخبرو اترو له پاره دهيئت دمشري لپاره غوره کړي وم . زما مشري دهغه يو شرط ؤ چي ومنل شو دهغه نماينده ددي شرط له پوره کيدونه وروسته بايد له موږ سره مسکوته تللي واي .

معامله له دي دري جمهوريتونو سره ده اونن چي روس کومه پريکړه کوله دوي بايد پکي واي ترڅو په راتلونکي کي دغه مسلمان جمهوريتونه دروس مرکزي قيات ونه غولوي ، کله مي چي په لومړي ورځ دروسي هيئت په

شي چي روس حکومت دي ته تيار نه و نو چي کله روسان له نجيب نه تير شول دګډي اعلاميي د تيارولو لپاره وروستي خنډ لري شو او ما وويل چي ګډه اعلاميه نن تر ما ښامه بايد خبري منابعو ته وسپارو .

دروسي دفدراسيون دصدر مرستيال الکزاندر روتسکوي هم دافغان ولس له جذباتو اواحساساتو ځخه ښه خبرؤ . اودمنځني آسيا دمسلمانو جمهوريتونو دنمايندګانو خوښي خودهغوي په تندي ليکلي ؤ . دتاجکستان جمهوريت

دبهرنيو چارو وزير برالا وويل چي «٧٤» كاله زموږ اوستاسو « وروڼو » ترمنځ اړيكي غوڅي كړاي شوي وي اويوظالمانه بريد جوړ شوي ؤ . دافغانستان سره پوله پوله جمهوريتونو نمايندګانو موږته ويل چي موږ نه غواړو چي يوه مرمي هم زموږ له لوري ستاسو هيواد ته درشي .

دروسي جمهوريتونو دسنا مجلس دبهرنيو اړيكو دكميټي مشر دتاجكستان اوسيدونكي دي ، هغه وويل چي ما په سنا كي وينا كړي ده اوويلي مي دي چي په نجيب وخت اوپيسي مصرفول بيځايه دي ، ځكه هغه داسي څوك دي چي دشوروي اتحاد له مرستي پرته پنځه ورځي هم خپل اقتدار نشي ساتلي .

نو په داسي سړي دشوروي بودجه ولي بيځايه مصرفوو .

پوښتنه : تاسو په شوروي اتحاد دجګړي دتاوان دعوه كوي ، خوپه اوسني ګډه اعلاميه كي روسانو له دي مسئلي نه ځان يوطرفه ساتلي دي ؟

ځواب : دامسئله دخبرو اترو موضوع وه اوپه راتلونكي كي به هم پردي خبري كيږي هغوي وويل چي اوس زموږ اقتصادي حالت داسي دي چي بازارونه موتش دي نوموږ به تاسو ته څه شي دركړو ، موږورته وويل چي په افغانستان كي دوسله والي لاسوهني غلطي اقرار تاسو په ملي اورسمي سطحه كړي دي اوس ددي تلافي اوجبران هم ستاسو اخلاقي فريضه ده ، سږكال نه ، خوكال يا بل كال تاسو بايد دا كار وكړي .

پوښتنه : په دي باب ددوي دريځ څه وړ ؤ ؟

ځواب : په اعلاميه كي هغوي دافغانستان په ګډه بياجوړونه كي دمرستي يادونه كړي ده ، دروس په چلند كي بدلون حس شوي دي ،روس اوس هغه پخواني روس نه دي ،خپل پخواني دريځ يي پريښي دي ، نوځكه موږ هم نور په دي باب خبره ورسره ټينګه ونه نيوله اوراتلونكو خبرو اترو ته موپريښودله .

پوښتنه : ايا روسي قيادت دافغانستان دربړي دحل اوتصفيي په باب مخلص دي ؟

ځواب : تر اوسه زه په دي باب څـه نشم ويلاي ، ددوي چلند د پخوا په نسبت نرم ؤ اوپه وروستي ورځ دوي له خپل پخواني دريځ نه بلكل تير شول .

پوښتنه : دګډي اعلاميي په شپږمه ماده كي ويل شوي دي چي روسان به دنوي عيسوي كال (١٩٩٢) دجنوري له لومړي نيټي نه دكابل په رژيم خپلي مرستي بندوي ، په همدغه ماده كي داهم ويل شويدي چي روسان به خپل پوځي ماهرين اومشاورين هم له افغانستان څخه باسي خودهغوي دايستلو كومه نيټه يي نه ده ښودلي ولي ؟

ځواب : په دي باب موږ هلته هم خبري كړي ، دا ماده ددوي لخوا طرحه شويده . اوپدي كي يوه نكته ډيره دلچسپه وه چي روسي حكومت دجينوا تړون له لاسليك نه وروسته ويل چي په افغانستان كي نور دهغوي هيڅ پوځيان نشته ، اوس روسانو پخپله داومنله چي تر اوسه پوري ددوي پوځي افراد په افغانستان كي شته . ځكه خوموږ نور په دي باب څه خبري ونه كړي اودا برخه هم دعمومي مادي تر حكم لاندي ده اود ٩٢ كال دجنوري تر لومړي نيټي پوري به ټول پوځي ماهرين له افغانستان څخه وزي .

پوښتنه : ستاسو پاكستان ته له مسكونه دبيرته راګرځيدلو دوهمه ورځ ده آيا تر اوسه پوري مو دهغوګوندونو له مشرانو سره ليدنه شويده چي دمسكو په خبرو اتروكي يي برخه نه ده اخيستي ؟

ځواب : زموږ دراتګ تراوسه يوه ورځ وتلي ده ، اوس موږ له خلكو سره ليده كاته پيل كړي دي .« دغه مركه له مسكونه د رستنيدو نه ٢٨ ساعته وروسته تر سره شويده .»

پوښتنه : دپاكستان له مقاماتو سره موليدنه شويده ؟

ځواب : زموږ دهيئت له غړو سره نن سهار دملاقات وعده وه له نورو دوستانو

زموږ ځني وروڼه چي دمسكو په خبرو اترو كي يي ګډون نه ؤ كړي هم بايد په دغه كميسيون كي وي زما پوره اميد دي چي هغوي به هم شريك شي

سره موهم دلیدو وعده ده .« دجماعت اسلامي له امیر قاضي حسین احمد اوداخوان المسلمون دنائب شاغلي مصطفي مشهور سره استاد رباني له مسکونه تر راستنیدو وروسته اوږد ملاقات درلود . »

موضوعاتو زموږموافقه راغلي هغه دمجاهدینو په گټه ده اوس له دي نه وړاندي دنورو بریالیتوبونو دلاسته راوستلو مرحله ده .

پوښتنه : له انجنیر گلبدین حکمتیار څخه دڅه وړعکس العمل توقع لري ؟

نړي ته ثابت کړو باید مسکو ته ورشو اوپه افغانستان کي دروسیي دلاسوهني دوام یعني دنجیب له مزدور رژیم سره مرسته پري بنده کړو .

پوښتنه : ایا نوي عبوري حکومت به جوړیږي ؟

ځواب : اوس ددي حکومت بدلول ضروري دي شکل اوطرز به همدغه وي خوبنیادي بدلون به پکي راوستل کیږي ، نوي جمهوررئیس اونوي صدراعظم به ممکن ورته ټاکلي کیږي . داټول ممکن دي .

زما په خیال به دکمیسسیون له تشکیل نه وروسته په دي باب خبره کوو ، اوداقتدار دانتقال په رابطه به داسلامي تنظیم درول په باب هم غور وکړو

پوښتنه : تاسو دمسکو دخبرو اترو نه گټون کوونکو مشرانو په نوم کوم پیغام استولي اویا موله هغوي سره کوم ډول اړیکي نیولي ؟

ځواب : زه پیښورته روان یم ، هلته مي له هغوي سره دزرترزره لیدو اراده ده ، انجنیر حکمتیار صاحب ، مولوي محمد یونس خالص صاحب اوپرفیسور سیاف صاحب که په پیښور کي وي که بل هر ځاي زه غواړم زرترزره ورسره ووینم .

پوښتنه : تاسو یوازي ورسره لیدل غواړي که دهیڅ له څینو غړو سره یوځاي ؟

ځواب : زه پخپله هغوي دمسکو دخبرو اتروله جریان نه خبروم . که ځانگړي وم که دهیڅ له غړو سره یوځاي ،اصل خبره داده چي هغوي ته دمسکو دخبرو اترو جریان بیان شي .

پوښتنه : ته لـه دوي نـه څه امید لري ؟

ځواب : د دوي دبشپړملاتړ امیدواریم ، له مسکو سره چي په کومو

ځواب : حکمتیار صاحب خوزه دمسکو دخبرو اترو له پاره دهیڅ دمشري لپاره غوره کړي وم . زما مشري دهغه یو شرط ؤ چي ومنل شو دهغه نماینده ددي شرط له پوره کیدونه وروسته باید له موږ سره مسکوته تللي واي .

پوښتنه : بیا داختلاف ټکي څه دي ؟

ځواب : دهغه اختلاف په اصولو نه په تخنیکي ډول دي .

حکمتیار صاحب له روسانو سره دخبرو اترو اصولي مخالف نه دي ، خودخبرو اترو په شکل اوډول دهغه ځانگړي نظر دي چي دمذاکراتو ا جندا باید دمخه معلومه شي اوخبري اتري باید په دریم هیواد کي وشي اودغسي نور .... خودزیاترو رایه بیا داسي نه ده او زما هم همدغسي ، موږ وایو چي دافغانستان دمسئلي اصلي لوري مجاهدین اودروس حکومت دي ، اوس چي روسان پخپله دخبرو اترو غوښتونکي دي نوموږ باید راوړاندي شو خپل ربتیني دریځ دوي اوتولي

پوښتنه : په نوي عبوري حکومت کي هغه گوندونه شاملوي چي په تیر حکومت کي نه وو شامل شوي ؟

دفتر ته به هر «۱۵» او« ۲۰» دقیقی وروسته یو نفر راننوته چی دفلانی پرمرگ زیات خپه شوم ، هغه دفلانی لوړرتبه مامور له خپلوانو ځینی دی (زیات تر کیزدلوړ رتبه مامور پر نوم اوخپلوی کیده) په فلانی وخت یی په فلانی ادیره کی خښنوی له ټولو هیله ده چی په کی برخه واخلی . هلته نور وخت کم وواوکه نه د انسانانو ترشمیربه اطلاع نامی زیاتی وی ، ماهم فکر وکړ چی ولی به دی کار کی شاته پاتی شم راځه تر خپل لاس لاندی مامورینوته دیوی اطلاع نامی له لاری خبر ورکړه که ضرورت شو له لوړ رتبه مامور سره به یی مخامخ کړم او ویه وایم چی دا زما خلك دی . وگوره څه دی څه وړ فرمانبرداره مادون یم چی له ټولو ملگرو سره راغلیٰ یم .

دخبرورکولو په کار بوخت وم چی وپوهیدم ځنی مامورین له ماهم مخکی وتلی اوځانونه یی دمړی ښخولوله پاره چمتو کړی او ورسره ورسره دغسل ځای ته هم رسیدلی ، ستونزوره خبره داوه چی چا ته دکار موقع ورکړی اوچا ته نه ، دروغ دویونکی په غاړه، چی ویل کیدل به یوه وخت کی څلور غسل ورکونکی اونـور مامورین دغسل ځای ته ننوتل ، هر یوه هیله درلوده چی دکار موقع ورکړه شی ، اوریدلی می دی چی دا ستونزه دښخولو په وخت کی هم وه ، څو لوړ رتبه مامورین پردی کاربوخت وو اوهر یوه کوښښ کاوه چی د لوړ رتبه مامور ددوست په مړی کی دسعادت له کاره بی برخی نشی .

خلك پر كار كولو بوخت وو چی خبر راغی دلوړ رتبه مامور دسپرلی الوتکه «۱۱» بجی له اسلام آباده راځی ، زیاترو خلکو دهوائی ډگر پر لور حرکت وکړ چی اصلی خبره خو د لوړ رتبه مامور لیدل دی ، د الوتکی تر راکوځیدو دمخه ټولو داسی ځانونه جوړ کړل تابه وی چی کوم نږدی خپلوان یی مړ شوی ، اویونیم خوبه سڼ سڼ په ژړا شو ، متیقن یم که هلته د کوم فلمی« ډایرکټر اوپرودیوسر» وای داسی خلك به یی ډیر پیداکړی وو چی په فلم کی یو رول ورکړی، چی له لوړ رتبه مامور سره تر مخامخ کیدو راوزگار شول ټول بیرته راغلل ، دی تلوسی واخیستل چی دی به پخپله کله گډون پکی کوی چی زموږټولی منهی رامنهی بیکاره نشی

> خلك پر كار كولو بوخت وو چی خبر راغی دلور رتبه مامور دسپرلی الوتکه «۱۱» بجی له اسلام آباده راحی ، زیاترو خلکو دهوائی دگر پر لور حرکت وکر چی اصلی خبره خو د لور رتبه مامور لیدل دی ، د الوتکی تر راکوحیدو دمخه تولو داسی حانونه جور کرل تابه وی چی کوم نردی خپلوان یی مر شوی

، متیقن وم که ، هغه خلك چی دکټ بازوگان یی نیولی وو خبر شی چی لوړ رتبه مامور ځنډ کړ اوښایی رانشی بازوگان به پریږدی اومنهی به وهی .

دجنازی دپورته کولو وخت راغی دا مشکل رامخی ته شو چی کوم څلورتنه دکټ بازوگان ونیسی ، ددفتر ټول مامورین پری راغونډ شول او هر یوه کوښښ کاوه چی تربل مخکی شی ،

اخرفیصله وشوه چی څلور لوړرتبه مامورین دی کټ پورته کړی خودلته هم بیا بل مشکل پیښ شو ددوی شمیر هم تر څلوروزیات وو ، کوم څلور مامورین چی ترټولو دمخه ووهغوی ته دجنازی دپورته کولو ویاړ ورپه برخه شو ، کوم چی شاته پاتی شول هغوی له حالاتو ګیله واخیسته اودلوړرتبه مامور ترڅنګ روان شول ،دهغوی چی دی ټکی ته پام شو ژر بی بازوگان نورو مامورینو ته ورکړل اودلوړ رتبه مامور سره جوړه روان شول نور دخاورو اچولو وخت راغی ، درجه په درجه خلك به راتلل اوبیرته به تلل تردی چی دوروستیو خلکو وار راورسید شا اوخوا خاوره ختمه وه اویواځی یی دفاتحی له پاره لاسونه پورته کړل ، چی په دی وخت کی داکار هم غنیمت وو چی په یو شکل لوړ رتبه مامور ته ځان وښیی اوکه له دی سعادت هم بی برخی شوی ټول کار خراب دی،تردی وروسته دختم وخت راغی چی دجمعی په ورځ شروع کیده په هغه کی عمده شرط داوو چی لوړ رتبه مامور به په خپله ګډون پکی کوی که نه ؟تول په دی فکر کی وه چی لوړ رتبه مامور به ورته راشی که نه ، ګنی نوسهاروختی هغه هم درخصتی په ورځ راتلل اوزحمت ټول بی ګټی دی آخر یوه تن نور صبرونشو کړای اودایی معلومه کړه چی لوړ رتبه مامور راځی کنه ، په ډیر عجز یی تری وپوښتل : صیب تاسو پاتی کیږی ؟ څو بجی حرکت کوی .... اوداسی نور .

دامعلومه شوه چی لوړ رتبه مامور څوورځی شته ، دغوړه مالو په رګونو کی وینه وچلیده چی دغوړه مالی بله موقع په لاس راغله ورو ، ورو له لوړ رتبه مامور سره خلکو دخبروکولو جرئت وکړ زیاترو به یی ځایه پوښتنی کولی ، څو زامن یی وو؟ څه کاریی کاوه ؟ دکومی ناروغی له امله مړ شو او.... پوښتنو اکثره ځوابونه پوښتونکوته معلوم وو .

دامعلومه شوه چی لوړ رتبه مامور څوورځی شته ، دغوړه مالو په رګونو کی وینه وچلیده چی دغوړه مالی بله موقع په لاس راغله ورو ، ورو له لوړ رتبه مامور سره خلکو دخبروکولو جرئت وکړ زیاترو به بی ځایه پوښتنی کولی ، څو زامن یی وو؟

دجمعی په سهار راتګ پیل شو ، په دی ورځ می جومات کی داسی کسان ولیدل چی په دی لاره تیر شوی نه وو ددا سی خلکو په لاسونو کی‌هی سپاری ولیدی چی دهغوی دنږدی خپلوانو په مرګ می هم نه وی ورسره لیدلی ، په ډیر ادب اوخاص مهارت یی ځان خوځاوه ، اوچی څوك به نوی راننوتل لومړي به یی لوړرتبه مامور پلټه اوبیا به یی ددی هڅه کوله چی یا دهغه مخی ته ،یانږدی ورسره کینی تر څو دهغه سره یی سترګی مخامخ شی ، دالړی ترهغی روانه وه تر څو چی قرانکریم ختم شو ، کله چی دفاتحی وخت راغی اوخلك په یوه ځای کی سره راغونډ شول ، په دی وخت کی بیا هر یوه کوښښ کاوه چی لوړ رتبه مامور سره دمخامخ کیناستو ویاړ لاس ته راوړی اویاپه یوه قطار کی ورسره کینی ، یوه تن خوبیخی کمال وکړ ، هغه ټیټ رتبه مامور و له دي امله دڅه شی وارنه ؤ ورغلی ، فکریی وکړ چی ټول پروگرام ختم شو اومادکار کولو مظاهره ونکړه ، داسی نشی چی زه شاته پاتی شم ، همدا وو چی یو دووته یی ونه کتل مخکی له دی چی دجومات مولوی فاتحه پیل کړی ده «بسم الله» وویله اوپه دی کار سره یی ټول مات کړل ، دابیله خبر ده چی کم بخت فاتحه هم نشو اي ویلي .

چی فاتحه خلاصه شوه ټول بیا پری راټول شول په داسی حال کی چی ددوی زیاترو دهغه نوم هم نه وو زده دمرحوم ئی دومره صفتونه بیان کړل چي که هغه په خپله هم اوریدلی وی شرمیده به . چی له جوماته ووتل دلوړرتبه مامور پروگرام یی هم معلوم کړ، معلومه شوه چی بیرته ادیری ته ځو ، ټولو همااغه لار ونیوه چی وروسته پاتی نشو او دلوړ رتبه مامور تر رارسیدو دمخه ځایونه ونیسو ، اوکه ممکنه وی دڅه ګلانو بندویست هم وکړو ، کله چی لوړرتبه مامور راورسید ګلان پری وشیندو ، زه وډارشوم چی ولی ورو ، ورو کیږی که وروسته پاتی شوی ټولی منډی رامنډی دی بربادی شوی ، ددی ویره هم وه چی څوك زما دضعیفولو په خاطر ونه پوښتی : « ښه ! فلانی څنګه تر اوسه نه دی راغلی په یادمي راغلل هغه نن کومی میلمستیاته روان وو » ګوری ددوو ورځو پر منډو رامنډو خاوری امبار کیږی ، هغوی به ځانونه هم وفادار او فرمانبردار ښودلی وی اوزه به یی هم کمزوری کړی وم ، له دی ویری ما هم په منډه ځان وروساوه خوافسوس چی لږ راباندی ناوخته شو ټولو خلکو ځایونه نیولی وو .

خو ماهم په داسی آسانی ماته نه منله ، فکر می وکړ لیدل می چی زما ترڅنګ یو تن قبر کندونکی کارکوی ، دهغه پام چی بلی خواته شو داویو ستل می راواخیست او اوبه می پر قبر وشیندلی خلکوجامی ټولی کړی ځانونه یی راغونډ کړل اوماته یی ځای را کړ دنیکه بخته په همدی وخت کی لوړرتبه مامور هم راغی ، په داسی وخت کی به په حسدکوونکو باندی څه تیر شوی وی دهغه اندازه تاسو ښه کولی شی .

لنډه کیسه

هماغه یوه پوښتنه!؟

چې سهار مې له خوبه سترګې و غړولې نوبیا خدیجه توری زما د خیال په پرده راته ولاړه وه زه نن بیا کلي ته تلم، خو لکه زندان ته چې روان وم پښې مې را پسې مړې وې. په زړه کې مې را وګرځیدل چې:

آخرهرچاته خپل کلي داسې له ویره ډك دی؟

هر څوك به زما په څیر له کلي نه په تیښته خوښ وي؟

هر ځای او په هر کلي به همداسې دماتم ږغرونه غوړیدلي وي؟!

له خپلو خیالونو سره مشغول وم هغه مې دخیال په پرده نیغه ولاړه وه، خدیجه توري ښیم، خدیجه توري چې دا تیری څو میاشتې ماپه ویښه او خوب لکه دا خپل سیوري تعقیبوی، خدیجه توري چې له کلي نه راووزم، غرونوته پناه یوسم خو هغه بیا راته دریدلې وی.

یوځل بیا را په یاد شول چې هغه به اوس بیا راغلې وي، زما په انتظار به وي له مانه به بیا همدغه پوښتنه کوی، ماته خپله وعده را په یاد شوه، چې په وروستي ځل لیدو مې ور سره کړې وه، څو څو ځلې هغه ماته راغلې وه، له ما نه یې همدغه پوښتنه کوله، هر ځل ما بیل بیل ځواب ور کړی ؤ هر ځلي مې بیل بیل د روغ ورته ویلي وو، تسلي او ډاډ مې ور کړی ؤ، خو دهغې په سترګواو څیره کې به خپله پوښتنه لا جوته ځلیدله، آن چې ترڅنګ به یې ماد خپلو دروغو په باب ړدی شك هم ښه حس کاوه، داسې لکه په خوله چې راته وایي: نه نه زویه دروغ مه وایه! دروغ مه وایه!

هغې ته مې په وروستي ځل دری ورځې وړاندې همدغه ورځ وعده ورکړې وه دانن ورځ مې ورته ښیلې وه چې زه به تاته پوره احوال راورم.

ماته خپل بیګانې تصمیم را په یاد شو، بیګامې تصمیم نیولی ؤچې نور به ځان له دې کشالې نه خلاصوم، نور به هغې ته سپین وایم، پښتوته مې دمه راغله، بس لکه په پیچومې چې ختلی وم، د آرامې احساس مې وکړ، خو لاڅوګامه نه وم تللی چې دګڼو ونو له چولو او چاکونو نه مې د کلي په خړو دیوالونو سترګې ولګیدې او سمدستي مې لکه په ښو پورې چې درانه کاڼي نښتي وي، پښې مې درنې شوې، او بیا هك پك ودریدم څه وکړم؟

هغې ته بیا څه ووایم؟!

آخر ترڅو به زه هغې ته دروغ وایم، دروغ هم یو حد لري، زه به اوس ترڅه وخته همدغسې په دروغو خوله خوځوم؟!

بیګانې تصمیم مې بیا را په یاد شو، څو ځلې مې دماغزو په کوڅوکې تیر او بیر شو او بالاخره مې تصمیم ښه پوخ او مضبوط شو، له ځانه سره مې وویل:

بس همدا مې نیت دی، نور نو په هغه او دغه ځان تیر باسم، نور به خدیجې توری ته سپینه خبره کوم، نن به رښتیا وایم. همداسې به کوم. نور به تر عمره له دغه پیټې نه ځان خلاصوم.....

دپسرلي دموسم لمریزه ورځ وه، فضا دمارغانو نغمو او دسیند داویو شرهار تر ډیره حده سندریزه کړې وه، شاوخوا په فصلونو او کښتونو کښي خلکو کارونه کول، مخامخ مې وکتل، اوس نو زمونږ د کلي هغه ستره دروازه هم لږ لږ ښکاریدله چې دمخې دزردالیو دګڼوونو په مینځ کې نیمه نیمه را وتلې وه، هغه دروازه چې نږدې نیمایي کلي یې دننه اوسیده.

خدیجه تورې مې بیا مخې ته ودریده، همغسې لکه داوروستي ځل مې چې لیدلې وه توده تبه یې وه، د تبې له زوره لکه باڼه رپیدله، په سترګو کې یې مرګونو او مایوسیو چورلکونه خوړل.

پښې مې بیا درنې شوې، په مځکه پورې به کلکې ونښتې، سیده هواره لاره راته د هندوکش او سپین غر ګړنګونه شول ځان مې ډیر ستومانه احساس کړ، لکه دیر ستر پیټی مې چې به اوږو وي، رښتیا مې هم ډیر ستر پیټی په اوږو ؤ.

دا نیرې میاشتې بیا را په یاد شوې، چې هغه به راتلله، ماته به مخې ته ودریدله، او هماغه پوښتنه به یې رانه کوله، چې زه به چاورته ښودلی وم چاورته ویلې وو چې هغه خبر دی؟

ښه غوسه مې راغله ، په خوله مې ښیرې راغلې، خدای(ج) دې انصاف ور کړي چې چاره له خدیجې ترور سره په دې جنجال کې واچولم؟!

مابه هغې ته هر ځل یو دروغ ویل، په همدغه دروغو به یې لږ تسلي هم کیدله، خو پوهیدم چې منلې یې نه دی، زما خبره به یې په زړه نه پریوتله، خو بیا به هم مجبوره شوه یوازې دومره به یې وویل:

ته یې داځل بیا پوښتنه وکړه!

او مابه دیوې مبهمې راتلونکې په تمه هغه بیا ډك زړه رخصت کړه، نن به څه ورته وایم؟ آه خدایه چې په څومره ستر ازموینت کې لویدلی یم ډیر وځوریدم، په خپله بې وسۍ او مجبورۍ خپه شوم. دلومړي ځل لپاره مې حس کړه چې زه ډیر بې وسه یم، رښتیا چې ډیر بې وسه وم، ډیر مجبور وم او ډیره ځوروونکې لا داچې دازما مجبوري او بې وسي چا حس کولې هم نه شواې.

یو ځل بیا مې خپل تصمیم را په یاد شو، له ځانه سره مې وویل:چې پخپله له دې جنجاله ځان راونه باسم څوك لاس نه راکوي.

زړه مې راټول کړ، سپینې خبرې ته مې خپله اراده مضبوطه کړه، سپینه خبره به ورته کوم، ټول حال به ورته وایم، حتماً یې وایم حتماً.

شیبه په شیبه مې له کلي سره فاصله کمیدله، اوس مې دماشومانو نرې نرې شور زوږ هم اوریده، چې کلي ته مې وکتل، دیوې دروازې په مخه کې ښه پلنو پلنو ډبرو اته ، لس تنه ماشومان په لوبو مشغول وو، ښکته پورته کیدل. چیغې یې وهلې. همدغه یې دنیا وه، همدغه دکلي دانګړ اودلویې دروازې مخې ته لویې لویې پلنې ډبرې ماته مې خپل ماشومتوب سترګوته ودرید، په همدغه ډبرو به موږ هم را غونډ وو، دامو دساعت تیرې تر ټولو ښه ځای ؤ، ماهم دلته لوبې کړې وې، دماشومتوب ځنې یادونه مې تت سترګوته ودریدل، اوس د زمانې ډیر ګردونه ورباندې لویدلې و خپل همزولي مې هم دذهن په پرده انځور شول، لکه کوم خوب چې راپه یاد شوی وي دماشومتوب ښکلې او سپیڅلې دنیاوه، له کینو او دښمنو پاکه، سهار به مو ګریوانونه شلولي وو. غرمه به بیرته پخولا یو له بله غاړه غړې او څنګ ترڅنګ ناست وو کبیر مې را په یاد شو، خپل همزولي مې، هغه زما د همدغو پلنو ډبرو دلویو ملګری ؤ، زما دښوونځي ملګري او..... دهغه ژوند مې له وړوکتوبه تر چپه ځواني پورې زر زر سترګوته ودرید او بیا مې د خیالونو لړۍ وشلیده. اوس نو د زړې لویې دروازې ښې څنګ ته زموږ دکلا دروازه هم مالیدله. دمخې باغونو په منځ کې مې چرګان هم لیدل چې سرونه یې ځمکې ته ځوړند کړي و او ورو ورو ګرځیدل، هغوی هم څه شي لټول، او یو ځل بیا خدیجه تورې را په یاد شوه په کتو کښې یې همغه پخوانۍ پوښتنه او تلوسه وه، همغه ګیلې وې، خواستونه او عذرونه وو لکه وروستي ځل مې چې لیدلې وه د خړټکري یو پلویې په اوښکو لوندؤ سترګې یې سرې سرې اوښتې وې- بیا یې هم ژړلي وو، خامخا به یې ژړلي وو، ماته یې کتل همغه پوښتنه یې په سترګو کې وه همغه همیشنۍ پوښتنه.

یو شوك مې وخوړ، ومې کتل لا دلویې لارې پر سر ولاړ یم. شاوخوا مې وکتل سلطان آکا له لارې نه یو پټې لاندې په بل پټي کې شو تله ریبله، وړوکې خریې دشوتلې په یوه څنده کې څریده، سلام مې ور واچاوه ، له تاوده ستړې مشي او پوښتنې وروسته یې دېرونې ښارې د خیرت پوښتنه وکړه او زما په ډاډیې شکرونه و ایستل او بیرته په لو بوخت شو.

زه دکلي خواته کشیدم، پښې مې نه تللې خونه پوهیدم مجبوروم بیا هم پر مخ روان وم، ما ته مې بیا هم نوې تصمیم را په یاد شو.

دهمدغه تصمیم دپخیدو او کلکیدو په باب می ځان تلقین کړ، دخدیجی توری یوه خبره می یو ځل بیا په غوږ وکی وکرنګیدله:

زویه زما تاته ډیره تمه ده!

دغه احوال به ته راته معلوموی!

دایی په دغه وروستی ځل راته ویلی وو ، همدغه دری ورځی وراندی هغه ورځ چی توده تبه یی وه، له بړستنی نه نوی را جګه شوی وه او ماته د همغی پوښتنی لپاره راغلی وه.

یوځل می ویل کاشکی ماته یی دا تمه نه وای، خوبیا زر په زړه کی راوګرځیدل چی آخر هغه اوس لری څوک؟ څوک دی چی غم یی وخوری، خدیجه توری خود خدای(ج) بی وسه او بی کسه وه چی له دی یوه کبیر زوی پرته یی هیڅوک نه لرل، میړه یی لا لس پنځه لس کاله وړاندی مړ شوی ؤ، او نور اولادونه یی لرل نه، وایی دوه زامن او دری لونړه یی په وړکتوب کی وفات شوی وو خو هغه بیا نه مورلیدلی وو او نه مو په یادیدل.

زه یوه شیبه پخپل ځای ودریدم، فکر می سم کار نه کاوه، لکه په خوب -کی چی یم ځان می دروند شانته ؤ، له ځانه می وپوښتل:

دا په ما څه وشول؟

او بیا سمدستی هغه بیازما مخی ته ودریده، په مانور هیڅ نه وو شوی یوازی دهغی له مخامخ کیدو ویریدلم، دخدیجی توری خیری به اوس ماته نور څه را یادول. زړه به می ګډ وډ شو. په خیال کی را غلل چی هغه به اوس بیا راغلی وی، په کور کی به راته ناسته وی خامخا به ناسته وی، که تر اوسه نه وی راغلی هم نو شیبه پس به بیا مخامخ راته ولاړه وی، زه به څه ورته وایم، بس همدغه پوښتنی هوش رانه الوزولی ؤ دماشومانو شور او زوږ غوندی می بیا غوږبوته راغی، کلی ته را رسیدلی وم، یو ځلی می څه غیر معمولی غوندی حالت تر سترګوشو دږراغږ می واورید، ودریدم، ځیر شوم، د کلی په لویه دروازه کی ماشومان نه و، یو څو تنه ښځی وی چی ډیری بیړنی غوندی راته ښکاره شوی د لومړی ځل لپاره می ګامونه راته سپك شول، دږړا نری نری غږونه می اوس هم اوریدل خو لوری او طرف یی مانشو معلومولی، لږه شیبه ولاړ وم، د کلی ماحول تش ؤ، دغه وخت به دلته ډیر ماشومان وو اوس هیڅوك هم نه وو، کومه غیر معمولی پیښه راته حتمی ښکاره شوه چی په همدغه وخت کی له لویی دروازی نه څلورپنځه تنه ښځی راووتلی ټولو ژړلی، ټولو پلونه خولوته نیولی و، په ډله کی می مور هم ولیدله چی ژړل یی، ما خوله پوښتنی ته جوړوله چی مور می په ژړا کی راته وویل:

خدیجه توری مړه شوه! هغه ستا په انتظار وه، خو ته ناوخته شوی....

یوه شیبه می غوږونه او سترګی لکه چی ویده شوی وی له کاره ولویدل، له خپل ماحول نه بلکل بیګانه شوم.

خدیجه توری مړه شوه! ماخو نن ټوله ورځ له هغی سره دمخامخ کیدو په خیال تیره کړه خو هغه....

کورته ننوتم، مور می بی دریغه ژړل ماته یی د ملامتی په نظر کتل، لکه زه چی لوی مجرم وم، ماهم ددغی ګناه احساس وکړ، په خپل ځند خپه وم، خو دمور ژړا له مانه نور هر څه هیر کړل، کله کله به خدیجه توری زما په مخ کی ودریده دمور ژړا به می نوره نه اوریده، خدیجه توری به می لیدله چی توده تبه یی وه او لکه د خزان پاڼه رپیدله...

جنازه تیاره وه، خلکو یی وروستی ځل له مخ نه کفن لری کاوه او لیدله یی زه هم ورغلم، اوس می هم په زړه کی یوه غلی شان ویره وه. کفن می یی له مخ نه لری کړ، سترګی یی پټی وی. لکه له مانه چی مروره وی او نه غواړی ومی وینی، په خوله یی پیکه شان تبسم ؤ، لکه زما په دروغو پوری یی چی خندل، په څیره کی یی یو ډول سکون ؤ، هغه ورځنی کشمکش ستړیا او ځور بالکل ورنه ورك وو، یو ځل په زړه کی را ولویدل که همدا اوس سترګی را واړوي او راته ووایی .

زویه! دکبیر احوال دی راوړ؟!

څه شو، ووایه کبیر چیرته ورك شو؟!!

نور می دهغی په مخ کفن ورکش کړ،

کبیر خو یی ونیو، کبیر ورك شو ، کبیر په پولیګون.........!!!

دخدیجی توری مخ په کفن پټ و، خو ما داسی احساسوله چی هغه ماته چیغی وهی، غږ راته کوی او همغه پوښتنه رانه کوی چی:

دکبیر احوال دی راووړ؟

ووایه کبیر څه شو، زما زوی کبیر چیرته ورك شو؟!!!

اسلامي اوغير اسلامي ادب

دا خبره چي ادب دي داسلامي توب اوغير اسلامي توب له توپير ځخه پوره وساتل شي له يوه لحاظه سم ښكاري ، په دي خاطر چي ادب كومذهب نلري بلكي اديب مذهب لري ، ياداچي پهلواني ، عسكري او .... په خپل ذات كي نه اسلامي دي اونه غير اسلامي ، دافنون دي چي دځان لپاره كوم مذهب نلري البته پهلوان يا عسكر حتماً يو مسلك لري اوس يو پهلوان يواځي ديوي حرفي ځښتن دي اودهغه مقصد يواځي دخپل فن نمايش وي دهمدي مقصد په خاطر هغه ډگر ته راوځي او ځان مقابلي ته چمتو كوي . يو پهلوان خپل قوت يواځي دبدمعاشي لپاره استعمالوي اوهغه ته مور بدمعاش پهلوان وايو ددي پر عكس يو پهلوان داسي هم وي چي خپل توان اوقوت په دي لاره كي په كار اچوي چي ټولنه د بدمعاشانو له شر ځخه وساتي داټول مسلك دپهلواني نه دي دپهلوانانو دي .

په دي برخه كي يوه مهمه خبر داده چي داسلامي توب اوغير اسلامي توب اشتراكيت اوغير اشتراكيت ځخه خبري كول كوم مصنوعي شي نه دي ، په حقيقت كي بايد داديب تخليقي عمل په داسي ډول وي لكه چي دمور له گيډي اودلاپيدا كيږي ، داديب دفكر كيفيت دحمل په ډول وي چي دهغه ځخه بلكل فطري ولادت مينځ ته راځي ، اديب چي هر ځه تخليقوي هغه دهغه دفطرت دغوښتنو سره سم وي ، اديب يوانسان دي ، دانسان په دننه كي بيلا بيل گرايشونه دي ، روښانه ده كه يوه اديب كي دگمراهي خواته تمايل وي هغه په نړي كي فتنه اوفساد راپورته كول غواړي ، بيا دهغه په زړه كي دبدو نيتونو اوبدو ارادو حمل مينځ ته راځي اوپه نتيجه كي حتمي ده چي هغه ځه مينځ ته راوړي چي دضررونو درلودنكي وي ، دلته يوه خبره ياده ولري چي ددي گمراهي اوبدي سره سره اديب دااستعداد لري چي ځه وړاندي كوي په ډير ښه روش سره يي دفن چوكاټ ته وراچوي او په داسي ډول يي وړاندي كړي‌چي زر اغيزه وكړي نتيجه داكيږي چي دهغه وړاندي كړاي شوي ادب په خلكو كي بدي جذبي په حركت راولي اودهغه له وجي ټولني ته تاوان رسيږي .

پرعكس يو بل كس دټولني داصلاح په خاطر دخپلو ادبي استعدادونو ځخه كار اخلي اوپه خلكو كي پاكي جذبي راپاروي په دي خاطر دي چي ويلي شو دا په مصنوعي طريقي سره نه پيدا كيږي .

يوداسي اديب چي اسلامي حقايقو باندي په سمه توگه وپوهيږي دكلتور ، اقتصاد ، تمدن اوسياست په برخه كي اسلامي اصولو باندي ايمان ولري هغه چي كله هم دخپلوادبي استعدادونو ځخه كاراخلي ، ځه ارادي او كوښش پرته چي ځه تخليقوي هغه به اسلامي ادب وي اوس چي ځوك وايي اديب دي داسلامي توب اوغير اسلامي توب ځخه بحث نه كوي دهغوي مقصد په اصل كي دادي چي اديب دي يواځي ديوه كسب اوفن ځښتن وي هغه ځخه چي ځه بازار غواړي هغه دي ورته وړاندي كړي خو كه ديوي پيښي ، فن اوكسب د درلودلو پر ځاي مخلص وي هغه به دي كافرانه ادب پرځاي اسلامي ادب وزيږوي .

اسلامي ادب اوعادتونه :

تركومه ځايه چي په اسلامي ادب كي دعادتونو په باب پوښتنه پيدا كيږي هغه دټولي نړي دادب اوحتي دهغه ځخه دمخه ترننه د هرشخص او ژبي گډ ميراث دي په دي ترڅ كي ليدل كيږي چي دكار شيان كوم كوم دي اوچيرته ، چيرته دي ،اسلام خوښونكي اديبان په اصل كي دشاتو دمچيو په ډول كار كوي چيرته چي گل گوري هلته ځان رسوي ، دكفارو په ادب كي ديري ښي خبري بيدا كيږي .

دغربي هيوادونو په ادب كي ډير گټور شيان پيدا كيږي په عربي اوفارسي ادب كي هم ډير شيان تر نظر راځي اصلي خبره داده چي داسلام فطرت او مزاج په سمه توگه درك شي اوبيا دهمدي فطرت اومزاج سره سم چي ځه پيدا كيږي هغه واخستل شي.

گڼ کلتور او فرهنگ :

په دي کي شك نشته تر کومه چي دگڼ کلتور اوفرهنگ پوښتني پوري اړه لري په هغو کي زياتره شيان دنړي په ځينو مذهبونو کي گډون خوزموږ لپاره يواځي داسلامي کلتور اوفرهنگ گڼوالي کافي نه دي ځکه چي دهر مذهب تر شا دهغه دژوند فلسفه او دهغه ماوراً الطبيعي نظريه پرته وي ، دبيلگي په توگه په اسلام او« بودائي مذهب » کي زياتره شيان گډدي خو يواځي داشي ددي خبري لپاره کافي نه دي چي موږ د «بودا مذهب » ادب اسلامي ادب وبولو ددي وجه داده چي د« بودا مذهب » دخپل د کلتور اوفرهنگ ترشا خپله دتناسخ يوه مخصوصه نظريه لري دهغه دژوند فلسفه راهبانه ده اوددي پر عکس زموږ کلتور اوفرهنگ زموږ دژوند نظام اوداني د آخرت لپاره کښت بولي ، نتيجه داچي زموږ ذهني پس نظر ، زموږ ماوراً الطبيعي نظريه اوزموږ فيلسوفانه بنسټونه دکلتوراوفرهنگ دگڼوالي سره سره که جلا اوبيل وي په دي خاطر دي چي زموږ ادب د« بودامذهب » له ادب څخه جلا دي موږ سره دآخرت تصور دي دهغوي سره دتناسخ صوربند کارونه په دي خاطر غندو اوپه دي خاطر دهغو څخه ځانونه ساتو چي خداي «ج» ته ښه نه دي .

اوهغه موږ ته له بدو کارونو څخه دځان ساتلو امر کړي خو د« بودائي مذهب » لار وي له بدو کارو په دي خاطر ځان ساتي چي انسان ته تاوان ونه رسيږي اودهغه راتلونکي اولاد له پخواني څخه ښه وي اوس روښانه خبره ده چي په شعوري اوغير شعوري توگه دا ډول تصورات دهغوي ادب ته لار مومي اود« بودائي مذهب » ادب له اسلامي ادب څخه جلا کوي ، په همدي ډول دغربي هيوادونو ادب هم دي . دغرب دژوند فلسفه جلاده اودمسلمانو جلا ، په همدي خاطر دهغوي په ادب کي هم فرق کول ناممکن ښکاري .

اسلامي ادب اوسمبولونه :

داعجيبه اتفاق دي چي دمسلمانو لخوا پيدا شوي شعر اوادب کي هم سمبولونه زياتره داسي دي لکه حرام اومنع شوي شيان ترکومه چي زما په ذوق پوري اړه لري زه له دي سمبولونو څخه ځان لري ساتل ښه بولم خوزموږ اديبان هم « نه جوړيږي باده اوساغر دبل شي پرته » خبره مني ، موږ بايد تر کومه چي ممکنه وي نوي سمبولونه پيدا کړو چي زموږ دمعتقداتو سره سمون وخوري دا کار دير آسان هم نه دي ځکه چي موجود ،سمبولونه داوږ دي مودي راهيسي پيژندل شوي اورواج شوي اوبيا هم که دا ډول کوښښ جاري وساتل شي لري نه ده چي ورو ورو به نوي سمبولونه رواج ومومي .

الشعراء يتبعهم الغاوون .... تر پوهيدو دمخه دقرآنکريم دآيتونو دپوهيدو لپاره تيري تگلاري باندي فکر کول ضروري ښکاري اوکنه نو مفهوم غلط ښودل کيږي اصلي خبره چي دلته وړاندي بحث کيږي هغه داده چي دمکي کفارو دپيغمبر«ص» پر پيغامونه ډول ، ډول ټوکي اوخبري کولي اودهغو دردولو لپاره يي پلمي پلټلي ، کله به يي پيغمبر «ص» مجنون باله ، کله به يي جادوگر باله اوکله هم شاعر ، دلته دکفارو دهمدي خبري ځواب مقصد دي ، کفاريي مخاطب کړل اوورته وي ويل ، چي تاسو کوم شخص شاعري بولي هغه دعامو شاعرانو سره مقابله کړي چي کوم شاعران په دي وضع کي دي ؟ آيا هغوي په همدي ډول ويلي شي ؟

اوبيا يي وويل چي دشاعرانو حالت دادي چي دخرخ شو خلکو تر شادريږي اودهري سيمي سره سازش کوي کله يي چي مزاج برابروي حکيمانه شعر وايي اوکله چي بيا مزاج بدل شي صوفيانه شعروايي اوکله چي يي زړه وغواړي رندانه شعر وايي کله دچاپه برخه کي قصيده وايي اوکه بيا خپه شو دشکايتونو ليکل پيل کړي ، آخر داچي بيلا بيل جذبات په مبالغه آميزه توگه دنظم چوکاټ ته ورواچوي داټولي خبري دعربو دجاهلو شاعرانو په باب وويل شوي دجاهليت کلام موجود دي هغه دقرآن سره کوم مناسبت نلري بيا دهغوي ژوند دپيغمبر «ص» دژوند سره په ضد کي دي له دي څخه دا مطلب هيڅکله نه دي چي شعر اوشاعري غلط کار دي داسي نه ده شاعري دپاکو اولوړو جذبو هينداره ده زموږ مخي ته داقبال کلام پروت دي ، په همدي ډول «دا شعرالشعرا قاعدهم النار امراء القيس » په هکله پيغمبر «ص» وايي په عربو کي که « امراء القيس» شاعري دفن له مخي تر ټولو لوړه ده دبلي خوا دفسق اوفجور هوا لري په همدي خاطر يي دفني اړخه هغه ترټولو غوره شاعر وباله او دموادو اوموضوع له اړخه د دوزخ سردار .

دادب تعريف :

په علمي لحاظ چي دادب تعريف دادبيانو اوفيلسوفانو په نظر هر څه وي خو زما په ذهن کي دادب په باب تصور دادي چي هغه دکلام دښايست او اغيزمن توب نوم دي، کوم شي چي ادب دعامو انسانانو له خبرو او وينا وڅخه جلا کوي هغه دکلام ښايست اواغيزمن توب دي کله چي انسان خپله خبره په ښه توگه اداً کړي اوهغه دومره له تاثيره ډکه شي چي پراوريدونکي

اغيزه وكړي بيا چي څه خبره كول وغواړي اغيزه كوي دكلام دي نوع ته زه ادب وايم .

دادب قسمونه :

دادب تقسيم دهر چالخوا په جلا ډول كيږي ، هغه په ډيرو زياتو قسمونو تقسيموي خو داسلام له نظره زه هغه په دريو ډولونو ويشم .

١- ناجائزادب ٢:- جائز ادب ٣- اسلامي ادب .

ناجائز ادب :

١- ناجائز ادب داسلام له نظره هغه دي چي په انسان كي غلط فكرونه پيدا كړي په هغه كي دكلام سنايست اواغيزمن توب وي خوپه انسان كي غلط فكرونه تحريك كوي دبيلګي په ډول د الله «ج» له پرستش نځه انسان دالحاد خواته كش كړي يا په هغه كي شك او تذبذب پيدا كړي دروښانه حقايقو په مقابل كي انسان شكمن كړي ، انسان فكرو كړي چي معلومه نه ده حقيقت كوم دي خدا«ج» موجود دي كه نه آخرت شته كه نه، انسان شكمن كړي يا دانسان پام دآخرت څخه واړوي دانسان په ذهن كي دافكر پيدا كړي چي :

بابر په عيش وعشرت كي كوښش وكړه چي عالم بيانشته (بابربه عيش كوش كه عالم دوباره نيست)

ب :- په همدي دول دناجائز ادب په تعريف كي هغه هم راځي چي په انسان كي دجبر عقيده وپالي هغه ته وښيي چي په دي نړي كي مجبوردي ، ځوك چي ګناه كوي له مجبوري بي كوي ، دنړي نظام پدي ډول دي چي انسان دبدو كارونو پر كولو مجبوروي ، دانسان دمسوليت احساس وژني ، انسان ته دا فكر وركړي چي ښه سړي يابد سړي ګرځيدل دده په وس كي نشته .

ج:- هغه ادب هم دناجائز ادب په تعريف كي راځي چي انسان مايوسه كړي اوهغه دياس پر ناروغي اخته كړي ، هغه ته داسي وښيي چي دانسان په قسمت كي دمنور كيدلو امكانات يا شته نه دي اوكه شته هم كم دي .

د: . په همدي توګه هغه ادب هم داسلام له نظره ناجائز دي چي په انسان كي بدي جذبي راوپاروي دبيلګي په ډول نژاد پرستي يو نژاد پربل نژاد ښه بلل يو قوم پر بل قوم غوره بلل ، دنورو دمري ګرځولو تصور ، بي ځايه غرور اوفخر ، دانتقام دجذبي راپارول ، وحشت اود جګړي دجذبو تقويه كول .

ر :- اوهغه ادب هم ناجائز دي چي دي وي طبقي ملاتړ په داسي ډول وكړي چي دبلي طبقي پرخلاف كركه راوپاروي ، اواخبره په زړه كي ځاي ونيسي چي دنړي نظام داسي دي چي په بيلا بيلو طبقو كي كشمكش شته كومي طبقي چي كشمكش لازمي بولي او وايي چي دانساني طبقو به مينځ كي دمرستي ، ملګرتيا اوپوالي امكانات نشته او دا كشمكش دفطرت غوښتنه بولي ، دا دتاريخي لحاظه واجبه ګني چي انساني طبقي دي ديوه بل سره وجنګيږي ، او نتيجه داچي ديوه انسان په مقابل كي دبل انسان كركي پيدا كوونكي ادب داسلام له نظره ناجائز دي .

س :- په همدي دول هغه ادب هم ناجائز دي چي په انسان كي حيواني جذبي راوپاروي اودانسان لپاره بي بندو باري اوحيواني آزادي مقدس شي بولي .

ص :- اوهغه ادب هم چي انسان ته بد كارونه ښه ونيسي اوښه كارونه بد معرفي كړي نيكي ، تقوا او پرهيز ګار خلك بدوښيي اوبداخلاقه خلك دانسانيت بيلګه معرفي كړي .دقرآنكريم حكم دي چي دا دشيطان كاردي چي ګناه ديوه ښه شي په توګه تاسوته ښيي اوانسان ته وايي چي ستاګټي په هغوي كارونو كي دي چي په هري زماني كي دانسان لاربنود اوښو خلكو ګناه بللي په لنډه توګه دا ټول ګرايشونه د ناجائــزادب پـه تعـريف كي راځي .

جائزادب :

١- دجائز ادب تعريف دادي چي په هغه كي سپيځلي جذبي اونظرونه بيان شي كوم حقايق چي بيانوي بايد داسي وي چي انسان دبدو كارونو خواته سوق نكړي اوښه كار اوعمل مور تـه بد اوضـعيف ونه ښيي .

ب :- په كوم ادب كي چي دالله «ج» اودهغه درسول «ص» تعريف وي كوم كي چي دنيكو جذبو بيان وي اوښه اخلاق تشريح كړي .

ج :- هغه ادب هم چي له بديو خالي وي اوسپيځلي وي جائز ادب دي كه دتفريح لپاره هم وي هغه سپيځلي تفريح وي كه هغه مقاله وي شعر يا افسانه له بديو پاك وي هغه دبديو خواته سوق كوونكي نه وي كه كيسي بيانوي هغه دبديو اوبدو كاروُ بيانو نكي نه وي ، تفريح هم تربوه حده جائزوبولي كه شعروي دبدو جذبو راپارونكي نه وي .

« نوربيا »

استراتژي وتكتيك در مذاكرات ديپلماتيك

فصل سوم

خصوصيات لازم براي مذاكره كنند گان

ديپلماتهابه يك معني سياستگذارند . زيرا قسمت اعظم اطلاعاتي راكه تعيين خط مشي بر آن استوار است ، فراهم مي آورند . بنابر اين سهم اساسي ديپلماتها در روند سياستگذاري از مهارت آنان در تفسير اوضاع كشور ،محل مأموريت وقضاوت در مورد آن شرايط ناشي مي شود . البته اگر ديپلماتي تنها از اين جهت صالح باشد ، بدان معني نيست كه قضاوت وي هميشه مورد توجه قرار خواهد گرفت وبه نظر ويا هشدار اواعتنا خواهد شد . نفوذ يك ديپلمات در تنظيم اهداف دولت بستگي به ملاحظاتي چند دارد . اگر ديپلمات ميان كارشناسان سياسي طراز اول وزارت امور خارجهء كشور خود از مقام خاصي برخوردار بوده وشهرت داشته باشد ، كه قابل اعتماد ، مبتكر وكاردان است ودر اجراي سياست رسمي از تلاش در جهت كارشكني خود داري مي كند ، امكان دارد اغلب توصيه هاي او در مورد اتخاذ سياست خارجي مراعات شود. يعني وظيفه وي علاوه بر فراهم آوردن اطلاعات ، ارائه نظر نيز خواهد بود ؛ ولي احتمالاً وي نقشي در تنظيم اهداف كلي سياست حكومت متبوعش در خارج نخواهد داشت وفقط در مورد اهداف سياست خارجي ممكن است از او خواسته شود كه بهترين طريقه ذيل به آنها را ارائه نمايد . از طرف ديگر اگر ديپلمات در شغل خود تازه كار باشد و يا سياستهاي رسمي دولت را بشدت به زير سؤال بكشاند ويا آنكه ارزيابي هايش قابل اعتماد نباشد ، علي القاعده نمي تواند تأثير چنداني در تنظيم سياست خارجي دولت متبوعش داشته باشد.

در اين جامسئله مهم اين است كه ارززيابي ونظرات يك ديپلمات مذاكره كننده تا چه ميزان بايد مبتني بر توانايي عملي ويا زيركي وفراست وتجربيات وي باشد.

در اوايل دهه ۷۰ به دنبال نيازي كه در «پوهنتون yale» امريكا درمورد پژوهشي در مورد جنبه هاي روانشناسي وعملي تكنيكهاي مذاكرات حل اختلافات احساس مي شد ، دو كنفرانس مختلف برگذار گرديد كه يكي در سال۱۹۷۱ در شهر گرينويچ ايالت كانكتيكت ودومي در سال ۱۹۷۳ در شهر بلاجيوايتاليا تشكيل شد . هر دو كنفرانس از تعدادي از مقامات صرفاًآكادميك ودانشگاهي ، ونيز گروهي از كساني كه به لحاظ حرفه اي و عملي داراي تجربياتي در امر مذاكرات بودند (نظير ديپلماتهاي باتجربه) تشكيل شده بود ؛ چند نفري هم از زمره كساني بودند كه هم در صحنه عملي صاحب تجربه بودند وهم به لحاظ عملي وآكادميك وجهه اي داشتند ،كه وظيفه آنها اين بودتا شيوه هايي را كه شكاف بين دو دسته را كمتر مي نمايد مورد بررسي قرار دهند ؛ از حرفه اي ها خواسته شد كه خود را بر اطلاعات ضروري مورد نياز آكاديميسينها ،متمركز كنند ودر مقابل

از اساتید دانشگاه خواسته شد که ارتباط تئوري هاي مختلف با مسائلي عملي در زندگي واقعي را مطرح نظر قرار دهند . نتيجه اي كه حاصل شد اين بود كه مذاكره كنندگان عملي وحرفه اي عموماً حتي در مورد طبقه بندي چارچوبهاي نظري ، كه علماي علوم اجتماعي به آن احاطه دارند ، اطلاع مختصري داشتند واكثراً حتي نمي دانستند كه از چه مقوله اي بايد سؤال كنند ! در مقابل اساتيد وعلما در جاي خود بسختي قادر بودند كه پاسخ مقتضي رابه ضروريات عملي سناريوها ارائه دهند و ،تعدادي از اساتيد در ارزشيابي بعدي ، ماموريت خود را « يك وظيفه دشوار وغير ممكن » توصيف كردند وبه نظر مي رسيد كه تئوري ها بيشتر ذهني هستند بدون اينكه زمينه مستحكمي در كاربرد علمي داشته باشند وبنابراين در نهايت صاحبنظران علمي در مقابل حرفه اي ها كه خيلي بيشتر در باره حقايق وواقعيتها مي دانستند ساده لوح به نظر مي رسيدند . اين بررسي ها كاملاً ضرورت هر چه بيشتر ارتباط بين « علمي ها وعملي ها » رامشخص كرد . دانشمنداني كه مذاكرات را به صورت تئوريك مطالعه كرده اند بدون اينكه ملاحظات حرفه اي ها وعملي هارا در زندگي واقعي ملحوظ دارند ، با دو خطر مواجه هستند : اولاً ازدرك جوهر وماهيت روندي كه واقعاً به آن بايد عمل شود عاجزند ؛ ثانياً به دليل آنكه نمي توانند روند جرياني را كه مذاكره كنندگان دروراي آن مي بينند در ك نمايند قادر به ارتباط با مذاكره كنندگان نيستند و لذا نيازفراواني به چشم مي خورد كه راهي پيدا شود تادستاوردهاي تئوريك دانشمندان به زباني ترجمعه شود كه براي حرفه اي ها قابل درك باشد ، و پس از آن نتايج آزمايشگاهي رادر مقابل تجربه حرفه اي هاتست كنند . با اين تفاصيل ، نتيجه كنفرانس «بلاجيو» اين بود كه بايستي بين دو گروه پلي ايجاد كرد .

ومطالعه اي صورت گيرد تا پژوهش وبررسي در جنبه هاي روانشناسي اجتماعي ومذاكرات بين المللي دوش به دوش هم پيش روند .

خصوصيات لازم براي مذاكره كننده عملي :

برخي افراد مذاكره كننده خوبي هستند وبعضي هم فاقد چنين خصيصه اي مي باشند . پاره اي از افراد در نوع بخصوصي از مذاكرات از ديگران پيشرفته ترند . مثالهاي زيادي براي اين گونه افراد مي توان بر شمرد . خيلي از مردم اكنون دريافته اند كه «وو در وويلسون » رئيس جمهور امريكا در هنگام جنگ جهاني اول ، شخصيت تخيلي ، آرمانخواه وسازنده بود ، ولي فرد مناسبي براي مذاكرات پيمان صلح نبود . چند نسل بعد بسياري از افراد هنري كيسينجر رابه لحاظ قدرت وي در به پايان رسانيدن موفقيت آميز چند مذاكره دشوار تحسين مي كنند ؛ پس اين سؤال مطرح مي شود كه تفاوت اين افراد در كجا ست ؟ مطلب مهم آن است كه بدانيم يك مذاكره كننده ساخته مي شود واز بطن مادر مذاكره كننده زاده نمي شود وبه عبارت ديگر اين خصلت بيشتر يك خصيصه عرضي است تاذاتي ، بنابراين مي توان آن را فراگرفت وآموخت . ولي شيوه فراگيري افراد متفاوت است وآنچه را كه به كارمي گيرند . مقصود آن نيست كه براي مذاكره كننده بايد تست وآزمايش خاصي برقرار سازيم و يا آنكه بايد فقط از گونه بخصوصي از شخصيتها ديپلماتيك يكي از عواملي است كه در انتخاب ديپلماتها در نظر گرفته مي شود ولي اين جنبه ، تنها عامل مؤثر نيست . با اين حال واقعيت اين است كه شخصيت ورفتار مذاكره كننده در چگونگي كنش وواكنش وي مؤثر است . شخصيت بيشتر مربوط به

> اگر ديپلمات ميان كارشناسان سياسي طراز اول وزارت امور خارجه، كشور خود از مقام خاصي برخوردار بوده وشهرت داشته باشد ، كه قابل اعتماد ، مبتكر وكاردان است ودر اجراي سياست رسمي از تلاش در جهت كارشكني خود داري مي كند ، امكان دارد اغلب توصيه هاي او در مورد اتخاذ سياست خارجي مراعات شود.

عناصر ثابت در پرورش روحي وروانشناسي افراد است ورفتار ها ، ادراكات ومنش به شخصيت مربوط مي شود ولي نه به گونه غير قابل انعطاف . زيرا اگر اين ارتباط خيلي شديد باشد، بايد شخصيتهاي مشخصي رفتار ها ومنشهاي ثابتي داشته باشند وآموزش مهارتها نبايد فايده اي داشته باشد وحال آنكه اينچنين نيست . ولي صرف نظر از اين مطالب علمي ، واقعيت اين است كه داشتن چند خصلت وخصيصه براي مذاكره كننده ، حائز اهميت است .

برخلاف بينش قديمي كه مي گويد: « يك سفير مرد راستگويي است كه به خارج از كشور فرستاده مي شود تا به خاطر مملكت خود دروغ بگويد . »

امروزديپلماتهاي غربي شديداً معتقدند كه كيفيت مثبت وحتي تمايل همكاري صادقانه ، براي يك مذاكره كننده از ضروريات است . اگر چه گروهي كمال ودرستي وهمچنين قدرت فهم نقطه نظرات طرف مقابل را نيز لازم مي دانند واين بدان معنا ست كه ديپلمات مذاكره كننده بايد بتواند درك كند موضع گيري هاي اواز ديدگاه طرف مقابل چگونه ارزيابي مي شود وبه عبارت ديگر ، اگر جاي طرف مقابل بود عكس العملش با موضع گيري خودش چگونه مي بود .

چارلز يوست كه به عنوان سفير امريكا در چندين كشور ازجمله سازمان ملل متحد خدمت كرده است مي گويد: « بهترين مذاكره كننده كسي است كه قادر باشد حتي اگر لازم شد به نحوبي پاياني بر روي مسايل اساسي مكرراً اصرار ورزد ولي اين كار را بايد با تفاهم زيادي نسبت به موضع طرف ديگر انجام دهد. »

حوصله وخونسردي هم عاملي است كه تعداد زيادي از مذاكره كننده گان با تجربه برآن تأكيد دارند وآن را به منزله سرمايه بزرگي مي دانند . مهم نيست كه يك مذاكره كننده چقدر مهارت دارد ، خيلي ازمذاكرات پيچيده ماه ها وبعضي اوقات سالها به طول مي انجامد . مدت مذاكرات اغلب غير قابل پيش بيني است . جرالد فورد ضمن تأكيد بر حوصله وبردباري چنين مي گويد :

« شمانمي توانيد داخل در مذاكره اي بشويد وانتظار داشته باشيد كه راه حل سريعي براي اختلافات بيابيد . حل موارد اختلاف اغلب مستلزم يك حركت تدريجي است . اين امر ممكن است ٥ ساعت . ٥ روز ويا بيشتر از آن طول بكشد . »

مذاكراتي كه به جنگ كره خاتمه داد ،دوسال به طول انجاميد و طي آن ٥٧٥جلسه تشكيل شد . معاهده مربوط به اطريش هشت سال به درازا كشيد و ٤٠٠ جلسه مذاكره داشت . مذاكرات مربوط به آژانس انرژي اتمي حدود سه سال به طول انجاميد وبراي كنوانسيون حقوق دريا ها بيشتر ازيك دهه بحث ومذاكره به عمل آمد .

مذاكراه در حقيقت تبادل ارزشها ست ، پس نوعي جريان ياد گيري است كه در خلال آن هر طرف هم معلم است وهم دانش آموز وبه تتبع آن چنين امري وقت گير خواهد بود ، علاوه بر آنكه هرطرف مسائل پيچيده را بايد به بحث بگذارد وبراي آن راه حل ارائه دهد ، اغلب زماني اضافي لازم است كه بين طرفين ارتباط برقرار شود . جرج كنان در تجربياتش به طنز چنين مي نويسد :

« اگر تصميم گرفته ايد مذاكرات شما در ژنو باشد يك عمارت زيبا براي چند سال براي نماينده خود اجاره كنيد وبه او اجازه دهيد كه عضو باشگاه « كاونتري كلاب » شودوپس از آن ، وي ترتيبي خواهد داد كه اولين جلسه را با روسها داشته باشيد ».

آرتورگلدبرگ ، نماينده اسبق امريكا در سازمان ملل متحد ، در مورد تجربياتي كه از مذاكرات متعددخود داشته است در يك مورد مذاكره با روسها در مورد پيمان مربوط به فضا

چارلز يوست كه به عنوان سفير امريكا در چندين كشور ازجمله سازمان ملل متحد خدمت كرده است مي گويد: « بهترين مذاكره كننده كسي است كه قادر باشد حتي اگر لازم شد به نحوبي پاياني بر روي مسايل اساسي مكرراً اصرار ورزد ولي اين كار را بايد با تفاهم زيادي نسبت به موضع طرف ديگر انجام دهد. »

چنين مي گويد :

« همه همكارانم كه در تيم مذاكره كننده طرف ما بودند ، ترديد داشتند كه بيچاره سفير شوروي تاكنون توانسته باشد حتي يك بار هم كه شده به مارشال گرچكو (وزير دفاع وقت) تلفن كند . اوبه اندازه هيئت مابه مراكز قدرت دسترسي نداشت . حتي نمي توانست به گروميكو (وزير خارجه وقت) هم تلفن كند .اوحداكثر مي توانست يك تلگرام به هر كسي كه مسؤليت اين فعاليتها را در وزارت خارجه داشت بفرستد . مسؤل مزبور نيز به سهم خود ، تلگرام رااز طريق سلسله مراتب اداري به مسؤلين حكومت شوروي مي رسانيد ؛ وبدين ترتيب ايالت متحده امريكا از يك مزيت از لحاظ سرعت برخوردار بود . به اين دليل است كه من تأكيد دارم در مذاكرات بين المللي صبور ويا حوصله باشيد . بعضي وقتها زمان درازي صرف حل مسائلي مـي شـود كه مي توانستند در مدت كوتاهي حل شوند . »

مطمئن بودن از خود (يا همان اعتماد به نفس) خصيصه ديگري است كه بسياري از مذاكره كنندگان براي آن اهميت بسزايي قائلند . شايد بد نباشد كه بار ديگر از اظهارات گلدبرگ نقل قول شود :

« اعتماد به نفس بلا ترديد لازم است . اگر اطمينان به ظرفيت وتوانايي خود نداشته باشيد شما يك مذاكره كننده خوب نيستيد وزياد كمرو خجل ومحتاط خواهيد بود . براي دستيابي به موفقيت ، به عنوان يك مذاكره كننده ، بايد تا اندازه زيادي جرأت وجسارت داشت . »

اعتماد به نفس ممكن است به ميزان مورد حمايت قرار گرفتن مذاكره كننده در جناحهاي ذي نفوذ داخل كشوروي ومقامات عاليرتبه تر در انجام وهدايت مذاكرات ، بستگي داشته باشد . مذاكره كننده اي كه در هر لحظه عملكرد وي ممكن است به زير سؤال برود ويا اعمال وافعال وي در داخل كشور با شك وترديد تلقي شود ، نمي تواند از اعتماد به نفس برخوردار باشد وشانس موفقيت اوپايين خواهد آمد واين امر ارتباطي به ضرورت گزارش مستمر به مركز ، وتبادل نظر كردن با متخصصين وگفتن دستور العمل از مركز ندارد .

گلدبرگ در اين زمينه مي گويد :

« هرمذاكره كننده اي بايد در مذاكراتش مورد حمايت قرار گيرد . اين امر بويژه در مذاكرات بين المللي مصد اق دارد زيرا در غير اين صورت در يك مذاكره به جايي نخواهيد رسيد . نكته ديگر آنكه اعتبار وپرستيژمذاكره كننده براي شركت در مذاكرات بعدي لطمه خواهد خورد و بلافاصله اين حرف بين ديگران خواهد بپيچد كه شما نمي توانيد به وعده هايي كه درطي مذاكره داده ايد عمل كنيد . »

قوه ابتكار وهوش وزيركي ، عامل مهم ديگري است كه بسياري از مذاكره كنند گان بر آن اشاره نموده اند وآن قدرت وتوانايي طرح استدلال ويا پيشنهادي است كه در موارد اختلاف وبه محض بروز اختلاف ، بر انها غلبه كند بيشتر از تكرار يك حرف ويا رد وتكذيب حرفهاي طرف مقابل ، نشان داده شده است كه استدلالات وپيشنهادات جديد نقش مهمي در پيشبرد مذاكرات داشته اند .

مذاكرات پيچيده ومشكل بر روي مسائل مختلف مذاكره كننده را وادار مي سازد كه مسؤليت انجام دستور العمل داده شده به وي بر دوشش سنگيني كند واز طرف ديگر ، دغدغه دفاع وحفظ منافع ملي او را همواره تحت تشويق واضطراب شديد ومستمري نگه مي دارد . جلسات مذاكره ممكن است ساعتها به طول انجامد وافزون بر حوصله وخونسردي ، مذاكره كننده بايد طاقت وقدرت مقاومت وايستادگي در مقابل آتش دشمن را داشته باشد وباز آرتور گلدبرگ در اين زمينه مي

مذاكراتي كه به جنگ كره خاتمه داد ، دوسال به طول انجاميد و طي آن ۵۷۵ جلسه تشكيل شد . معاهده مربوط به اطريش هشت سال به درازا كشيد و ... ۴۰۰ جلسه مذاكره داشت . مذاكرات مربوط به آژانس انرژي اتمي حدود سه سال به طول انجاميد وبراي كنوانسيون حقوق دريا ها بيشتر ازيك دهه بحث ومذاكره به عمل آمد .

آرمانونه

جهادي خاطره

ژوند يوسفر دي هر انسان ددي اوزده سفر له قافلي سره درومي ددي قافلي په مخ کي ډيري ستونزي ، کړاونه ، اوتوفانونه يورنګي روان وي مګر انسان ورسره مقابله کوي اوخپل هدف ته درسيدو په لارکي هر څه زغمي کله خو داسي پيښه شي چي له ډيرو کړاونو او توفانونو نه سرلوړي راووځي او کله هم پري نابېره دسيلي په شان داسي توفان راوالوځي چي دسترګو په رپ کي په يوه سلګي هر څه سره فنا شي .

غلام دستګير دچك ددري په پاي کي دبري ګوډي نومي سيمه کي هغه فقير حوان وه چي دژوند قافله ئي توله دنيستي اوستونزو سره مخ وه او سڼکلي ځواني به ئي دنورو په خدمت اومزدوري کي خاوري کوله هغه دډيرو ستونزو سره سره دخپل کلي په يوه کورني کي واده وکړ . اودځان د پاره ئي دژوند ملګري پيدا کړه تر څو خپلي ستونزي ورسره وويشي

هغه ته خداي «ج» زوي ورکړ او دمياشتو او کلونو په تيريدو دهغه دبچيانو شميره اته -۸- تنو ته ورسيده خو دنيستي له امله ئي په خپله سيمه کي ژوند په ډيرو کړاونو کي راګير وه . دده دمورني نصب دميدان نرخ په سڼکلي دره کي دخسرو کلي کي خو کوروڼو ته رسيده

چي دژوندانه دسختيو له امله دي ته اړشو چي بايدخپله سيمه پريږدي اودمشکلاتو دليري کيدو لپاره بلي خواته لاړشي خو اوس ورته ددي ستونزو دليري کيدو ټولي لياري بندي شوي . ځکه دده پروطن اوس لاديني نظام خپور شوي ؤ ده يوه طرف ته هم مخه نه لرله څو بلاخره يي تصميم ونيوه چي بايد نرخ ته چي دماما کلي او کوريي ؤ هجرت وکړي که چيري هلته ورته د کارکو لو څه موقع په لاس ورشي ،هلته اوس دمڼو سڼکلي باغونه رسيدلي اودا ګمان ئي کاؤ چي ورته به څه کار په لاس ورشي با لاخره خپل کورني پريښود اودنرخ علاقه داري دخسروکلي کي دخپل ماما په کورکي ميشته شو. دلته ئي دا ميدونو غوتي په غوړيدو سڼکاريدي ځکه يو خوئي مشر زوي نژدي ځلمي وه اوهغه ته يي خپلوانو لور هم په نامه کړي وه خوځلمي زوي يي دکار په نيت دکور څخه دپيښبور په لوري روان ؤ هلته دمولوي حقاني په غونډ کـي يـي څـه کار تر لاسه کړ .

غلام دستګير دڅه شپو او ورځو په تيريدو سره په کلي کي دجومات خادم ونيول شو . هغه به د جومات دير خدمت کولو يعني هڅه به يي کوله چي هميشه پاك ستره وي کلي والو به ورسره په بدل کي مرسته کوله ديو دوه کلونو په تيريدو سره هغه څه پيسي هم ټولي کړي اودخپلي ورځني مصرف نه به ئي څه سپمولي اوس هغه دخپلي آينده په نسبت دير اميدواره سڼکاريده په دير شوق به ئي هر کار کاوه په سيمه کي دکمونست رژيم په ضديت اسلامي جهاد هم روان وه ، ده به تر خپله وسه دمجاهدينو سره هم مرسته کوله اودروسي سڼکيلاك دځمکني اوهوائي يرغلونو نه هم بي پرواوه .

غلام دستګير په خپله کورني کي په دادك مشهور وه هغه ته به ټولو دوستانو هم دادك ويلي مګر نن هغه دخپلي کورني نه بلکي دکليوالو هم دادك وه . دادك دډير اخلاص اوصداقت نه دخلکو به زړونو کي ورځ په ورځ ځاي نيولو هغه ددويي په موسم کي دژمي ديخني دليري کيدو پخاطر څلور سوه ۴۰۰ - باروغرني بوټي دسونګ لپاره خپل جومات ته راووړي وه هر وخت به خلکو مرستي ورسره کولي ټولي کورني يي داسي ګمان کاوه چي دډير لوي تياري نه رابهر شويدي اوسخت ظلم نه پس اوس د ترحم دروازي ورته په مخ خلاصي شوي ، ده خپل مشکل دکمونست رژيم په مکالمو کي نه ليده اوله هغي نه بي پرواوه او کله ئي هم دانه ويل چي پر وطن ئي داسي

دظلم تورجال خپورشوي چي ډيري څواني ئي خاوري کړي ډيري ميندي ئي بوري کړي اوډيرئي يتيمان کړي .

دادك اوميرمن ئي پدي فكر كي وو چي دزوي ناوي راواده کړي دهغي دواده بندوبست ونيسي اواوس گواكي هغه وخت راغلي چي دژوند دا ارمان پوره کړي خو دبده مرغه داوخت چي ده دژمي تياري هم نيولي وه دكال خواري يي هم نژدي سرته رسولي وه يوه ورځ چي دلمر دپريوتونه روسته خپل كورته ځي په كوركي دخپلو بچيانو سره ناست وه چي تر خوړلو اوڅښلو وروسته درژيم هوائي قواو پر سيمه يرغل راوړ اويو بم ناڅاپه د دادك په خونه را پرويوت اودستر گوپه رپ كي دادك د خپلو اته -۸- بچيانو اوټولوآرمانو سره دخاورو ميلمه شو .

الهي ارشاد

اي پيغمبره ! هغه خلك دي ستادځوريدو باعث نه وي چي دكفر په لاركي چټك گامونه اوچتوي كه هغوي له هغو كسانو څخه دي چي په خوله وائي موږ ايمان راوړي دي خود زړه له كومي ئي ايمان ندي راوړي ياله هغو كسانو څخه چي يهودان شوي دي چي دهغو چال دادي چي دروغو ته غوږ ږدي ، او نورو خلكو ته چي تاته هيڅكله ندي راغلي ، غوږ باسي گرځي راگرځي ، سره له دي چي دكتاب الله دالفاظو صحيح ځايونه ټاكل شوي دي دهغوي معناوي له يوه ځاي نه بل ځاي ته اړوي را اړوي اوخلكو ته وائي چي كه تاسي ته داحكم دركړ شي نووئي مني كه نه نومه ئي مني الله«ج» چي په فتنه كي دچادورغورځولو اراده کړي وي دالله «ج» له مواخذي نه دهغه دژغورلو له پاره ته هيڅ نشي كولاي داهغه كسان دي چي الله «ج» دهغوي دزړونو پاكول ندي غوښتي ددوي لپاره په دنيا كي رسوائي ده اوپه اخرت كي سخت عذاب .

«المائده - ۴۱»

شعر

په شانه راځم

توري توري شپې که لا اوږدې شي په شانه راځم
ډکې له وهمونوشي درنې شي په شانه راځم

چول اوبیابان وي که په کومې دبلا کې وم
داړې یې زما په وینو سرې شي په شانه راځم

ګام په ګام خطرې وي ، مرګو کومې شلولې وي
نورې بوږنوونکې هم تیارې شي په شانه راځم

تالندې ،زلې مې دګولیو استقبال وکړي
خرجازونه ، وریځې راخورې شي په شانه راځم

زه چیا ودغم ته لکه غر غونډې دریدلې شم
چول مزل مې غم شي اندیښنې شي په شانه راځم

مخې ته لښکرې د« احزابو » راته پنډې شي
سپینې رڼا ورځې راته شپې شي په شانه راځم

یوځل چې لیلا دخپلواکې په غیږکې ونیسم
تل مې که ړندې دواړه لیمې شي په شا نه راځم

نه ګرځم له قوله که کړم ګوښې هم دتیارو ښامار
ډکې له اغزو چولې کوڅې شي په شانه راځم

دادغیرت لارې له نیکونو راته پاتې دي
ماتې مي که خپلې غبرګې پښې شي په شانه راځم

خپله مینه ګورم درقیب ګواښونه نه ځه کوم
پل په پل که لار کې غرغرې شي په شانه راځم

زه ابراهیمي یم سور انګار راته ګلونه شي
لارمې که سکروټې شي لمبې شي په شانه راځم

خیردې راتلونکوته به نخښنه کړي تیارې لارې
وینې مې که وتاځې ډیوې شي په شانه راځم

الهي ارشاد

نرم خوئي ، پرالله بروسه ، له خيانته ډډه :

(اي پيغمبره) دادالله لوي رحمت دي چي ته ددي خلكو لپاره نرم خويه جوړ شوي ئي ، كه داسي نه واي اوته توند خوي او سخت زړي واي نوداټول به ستاله شاو خوا نه خواره شوي وو ددوي خطاوي وبښه ، ددوي لپاره ببښنه وغواړه ، اوددين په چاروكي هغوي ته هم په مشوره كي برخه وركړه ، بيا چي ستا اراده پركومه رايه ټينگه شي نو پرالله توكل وكړه ، دالله هغه خلك خوښيږي . چي دهماغه په ډاډينه كاركوي كه الله مومرستندوي وي نوهيڅ قدرت درباندي برلاسي كيداي نشي ، اوكه هغه تاسي پريږدي ، نوبيا تر هغه وروسته څوك دي چي ستاسي مرسته وكړاي شي ؟ نو څوك چي ريښتني مومنان دي هغوي دي يواځي پرالله توكل وكړي .

دادهيڅ يوه پيغمبر كارنشي كيداي چي خيانت وكړي او هر څوك چي خيانت وكړي هغه به له خپل ټول خيانت سره دقيات په ورځ حاضر شي بيا به هر ساكښ ته دخپلو كړو وړو پوره پوره بدله وركړه شي اوپر هيچا به هيڅ تيري ونشي ښه نوداڅنگه كيداي شي چي يو څوك دي تل دالله په خوښه روان وي ، هغه دي دهغه چاغوندي كاروكړي چي دالله په غضب اخته شوي وي اودهغه وروستي منزل دوزخ وي چي هغه ډير ناكاره استوگنځي دي ؟

ديزاين وكمپوز:
غازي ليزر كمپوزر.
وحيدالرحمن « توره خيل »

جانبازان مؤمن کشور!
حالا که مرحله گذار به صلح رسیده نباید پیش
از دشمن تفنگ بزمین گذاریم .